بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# دحج د مناسکو لار ښود

دقرآن مجید او محمد صلی الله علیهِ وسلم د احادیثو په رڼاکښې

دمحترمو حاجیانو دپوهی دپاره

په پښتو ژبه لیکل شویدئ

ټولونه او لیکنه:

دحاجی عبدالغنی بریښ

خاص دالله جَلَّ جَلَالُهُ درضا لپاره

دغه کتاب دهر حاجی صاحب دپاره وړیا هدیه کیږی

هیڅوک دهغه د خرڅلاو حق نلري

Download from:aghalibrary.com

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيْمُ

شروع کوم په نامه د الله چې بې انتها مهربانه او ډېر رحم لرونکی دئ

## سریزه:

زه وتاسی ټولو مسلمانانو خوندو او ورنیو لره د الله جَلّ جَلالهُ له دربار د پوره او قبول سوی حج هیله لرم نو ددی هدف لپاره چی ستاسی حج پوره او مکمل وی او هیڅ کمبود پکښی نه وی، او هم د الله په پاک دربار کښی د منلو وړ وی ،نو می د دغه د حج د مناسکو د کتاب په لیکلو پیل وکړ او د الله پاک په اراده او کمک می د هغو محترمو مسلمانانو خوندو او ورنیو لپاره چی د حج اراده ولری او د پښتو لوستونکی وی په ډیره ساده ژبه چی ذهن ته ډیره نژدې وی ولیکی ټولی مسئلی د قرآن مجید د ایتونو او محمد علیهِ السلام د احادیثو په رڼا کی او د حنفی طریقې په اساس لیکل سویدی، ځکه چی دا سفر د ډیرو خلقو لپا ره په ژوند کښی یو وار ممکن کیږی ځنی نیک بخته خلګ په ژوند انه کښی څو واره دا سفر کوی، خو د اولی پلا د پاره هر څوک ځنی خاصو رهنمایی ګانو ته او د حج د مناسکو زده کړی ته اړتیا لری. د الله پاک له درباره غواړم دا کتاب ستاسو سره پوره مرسته وکړی.

او د الله جَلّ جَلالهُ څه هیله مند یم د غه کتاب و عامه مسلمانانو ته ګټور او زما کوښښ د خپلی رضا سبب وګرځوی او زما او زما مور او پلار ته بیله شکه الله جَلّ جَلالهُ اوریدونکی او قبلونکی او د . او هم ټولو مسلمانانو ته یی د رحمت او مغفرت سبب وګرځوی. آمین یا رب العا لمین ستر واک خاوند دی.

**اَلحمدُ لله وَحْدَهُ لا شَرِیْکَ لَهُ وَالصَّلاةُ وَالسَّلامُ عَلی مُحَمَّدٍ رَسُولُ الله مَنْ لا نبیَ بَعْدَهُ**

ژباړه: جمله ثنا او صفت دی د واحد او بی شریکه خدای لپاره ، درود او سلام پر محمد رسول الله چی نسته بل نبی تر ده وروسته

**Download from:aghalibrary.com**

سوال:حج څه وخت دمحمد علیهِ السلام پر امت فرض شویدئ ؟

جواب:د هجرت پر نهم کال ددغه مبارک آیت په نازلیدو سره پرمسلمانانو حج فرض شو

دقرآن مجید دآل عمران سورت په(۹۷ )آیت کښی الله پاک داسی امر کړیدئ

**وللهِ عَلیَ النَّاس حَجَّ الْبَیْتِ مَنِ اِسْتَطَاعَ اِلَیْهِ سَبِیْلا ومن کَفَرَ فان الله غنیٌ عَنِ الْعَالَمِیْن ()**

ژباړه: دالله له جانبه پر هغه خلګو دبیت الله شریفی حج فرض دی چی مالی او بدنی توان دتلو راتلو وهغی ته ولری-اوکه چا سر غړونه وکړه نو الله وبندګانو (عالمیانو )ته اړ(احتیاج ) ندی.

سوال:دحج او عمری دپاره وختونه تعین دی که یا ؟

جواب :الله جل جلا لهُ دالبقری سورت په(۱۹۷)آیت کی فرما یلی دی

**اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمَات ط**

ژباړه:دحج میا شتی معلومیدی(د شوال یا کچنی اختر داولی ورځی د سپیدو څه نیولی بیا د ذالحجی یا لوی اخترد لسمی ورځی تر سپیدو پوری ) دحج دپاره احرام تړل کیږی او ددغه موديِ څه د باندی دحج دپاره احرام نه تړل کیږی بلکی دعمری دپاره دکال په اوږدو کی هر وخت د حج دمخه او دحج وروسته دعمری دپاره احرام تړل کیدای سی،مګر افضل وخت دعمريِ دپاره د روژيِ میاشت ده

حضرت رسول اکرم صلی الله علیهِ وسلم فرمایلی چا چی دروژی په میاشت کی عمره وکړه دومره ثواب به وګټی لکه زما سره چی یی یو ځای حج ادا کړی وی.

سوال:په حج کښی باید د څشی نه اجتناب وشی.

جواب:دلوړ ذکر سوی آیت ادامه ،الله پاک فرمایی-

**فَمَنْ فرَضَ فِیْهِنَّ الْحَجَّ فلا رَفثَ وَلا فُسُوقَ وَلا جِداَلَ فی الْحَجْ ط**

ژباړه:چا چی حج پر ځان(داحرام او نیت په تړلو ) لازم(فرض )کړ نو به دجماع - دجګړيِ

اوبل هر نا روا څه ځان لری ساتيِ ،پدی هکله به وروسته پوره معلومات وړاندی شی.

دلوړآیات ادامه:

**وَمَا تَّفْعَلُوْ منْ خَیْرٍ یَعْلَمْهُ الله ط**

ژباړه: هر نیک عمل چی کوی الله پاک په هغه پوه( اګاه ) دئ.

**Download from:aghalibrary.com**

دلته یو څه ډیره توضیح لازمه ګنم:

الله پاک وتاته د هر نیک عمل په بدل کې څو برابره ثواب درکوي او ستا هر نیک عمل د الله پاک په نزد

محفوظ او دهغه عوض به حتماً وتاته درکوي لکه چې الله جل جلا لهُ د سورت مزمل شریف په(۲۰)آیات کښې داسې فرمایلي دي

**وَمَا تُقَدِّمُوالِاَ نْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللهِ هُوَخَيْرًاوَّاَعْظَمَ اَجْرًا ط وَّاسْتَغْفِرُوااللهَ ط اِنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيْمٌ (۲۰)**

ژباړه:هر هغه څه چه وړاندې لیږئ تاسې دپاره دځانو خپل (خیر او نیکۍ)نو بیا به مومې هغه په نزد دالله(دغه پخوا لیږل سوی حسنات)او ډیرلوی دی دهغه اجر او ثواب،او بخښنه

وغواړئ له الله څه بیشکه الله دی ښه مغفرت کونکی(دخطایاؤ)او ډیر درحم خاوند دی(په انعام د اجر او ثواب)سره.

ځکه چه هرلمونځ په حرم شریف کښې د مکې معظمې یو په سل زره(۱۰۰۰۰۰)واره دعادې دکوردلمانځه په نسبت ثواب لري که هغه بیا په جماعت هم وي نو ۲۷چنده نورعلاوه کیږي(۲۷۰۰۰۰۰)چنده کیږي نو همدا رنګه هر نیک عمل په حرم شریف کښې دومره ثواب لري،مثلاً لمونځ-روژه که فرضي وي که نفلي که واجب وي که سنت–تلاوت دقرآن غظیم الشان–او هر ذکر دالله پاک-درود پر محمدصلی الهُ علیهِ وسلم او دمسلمانانو سره مرسته په عمل اوګفتار-تبلیغ داحکامو دحج او دین او داهل علم سره صحبت او پوهه تر لاسه کول دحج د مناسکو په هکله او په حرم شریف کښې ډیر وخت تیرول په ذکر تلاوت طواف دکعبې شریفې او کعبې شریفې ته په ولاړې کتل په محبت لکه مین چه خپلې معشوقې ته ګوري ،نو نیک بختنه حاجي عجبه فرصت پلاس درغلی دی د وخت څه اعظمي استفاده وکړه او په بیهوده خبرو یې مه للاسه باسه اوګټې تر لاسه کړه چه پر لاري ځي د حاجیانو له لاري ډبري یا نور اذیت کونکي شیان ګوښه کوه مه تر تیریږه که چا رهنمایي ته ضرورت درلودی او ته بلد وی ځان مه سپموه د حاجیانو سره ترتوانه مرسته کوه ،فکر دي ونیسه په حرم شریف کښې هغومره چه نیک عمل ثواب لري هغومره ناوړه عمل تربل هر ځای ډیره ګناه لري باید په کرداراو عمل کښې–په ژبه اوخبرو کښې-په فکر او تصورکښې ځان وساتې په هر حال کې درواغ ویل ښکنځل کول-او غیبت کول دا هغه اعمال دي چه دچا حج نقصان من کوي ډیر احتیاط پکار دی خدای پاک د سورت الحج په(۲۵)آیات کښې داسې فرمایي

**وَ مَنْ يُرِدْ فِيْهِ بِا لْحادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذابٍ اَلِيْمٍ(۲۵)**

ژباړه:هر چا چه ارا ده وکړه(په دغه مسجد الحرام)کښې دبې لارې په ظلم سره نو وبه څکو موږ په هغه دردناکه عذاب.

سوال:په حج کې فقرکول(سوال)څرنګه دي

جواب:د البقرې د سورت د (۱۹۷)آیات په وروستی برخه کښې الله پاک فرمایي.

**وَتَزَوَّدُ فَاِنَّ خَيْرُالزَّادِ الْتَّقْوَى وَتَّقُونِ يَااُ لِی الْاَ لْبَا بِ ()**

ژباړه:- توښه دځانه سره واخلې ښه دتوښودځان ساتل دسوال کولو نه او له ما نه ووېریږئ ای خاوندانو دعقل. چه هلته سوال کولو او فقرته اړ نشي چه دا عمل د خدای پاک خاصتاً دحج په وخت کښې نه خوښیږي دامطلب دسورةالعمرا د۹۷ آیت په سر کښې ذکر شول چه تر څو تاسي مالي توان ونلرئ حج درباندې فرض ندی نوحج ته دفقراوسوال د پاره مه ځه چه باعث د ازار او تکلیف دنورو حاجیانو ونه ګرځې نور آیتونه دحج داحکامو په مورد کښې دالبقرې د مبارک سورت د(۱۹۲)آیت څه نیولې بیا تر(۲۰۳) آیات پورې ادامه لري مراجعه وکړئ.

Download from:aghalibrary.com

www.myhajjguide.com

خو آیتونه د الحج دمبارک سورت څه دلته دیادولو وړ ګڼم،

**وَاِذْبَوَّأْنَا لِاِبْرَاهِيْمَ مَكَاْنَالْبَيْتِ (الحج آیت ۲۶)**

ژباړه:یادکړه اِی محمده هغه وخت چه ښکاره مو کړابرهیم ته ځای دبیتی(مکی شریفی)

روایت دی چه دمکی شریفی ځای لا له پخوا متبرک ؤ نو ډیری مودی(دنوح َعلیهِ سلام دطوفان را پدیخوا هغه نا معلومه شوی وُ- دخدای تعالی له جانبه وحضرت ابرا هیم علیهِ سلام

ته امر وسو چه بیت الله ودانه کړه او دهغه معظم مقام نښی وروښودل شوې-حضرت ابراهیم

علیهِ سلام دخپل زوی حضرت اسما عیل علیهِ سلام په ملګرتیا دکعبې خونه ودانه کړه ،حق تعالی وحضرت ابراهیم علیهِ السلام ته امر وکړ چه

**وَاَذِّنْ فِیْ النَّاسِ بِا لْحَجِّ (الحج۲۷آیت)**

ژباړه:اوږغ وکړه (ای ابراهیم)په خلګو کښی دحج(دادا کولو )دپاره.

توضیح:کله چه کعبه شریفه ودانه سوه نو حضرت ابراهیم علیهِ سلام دالله پاک په امر دعرفات دغره پر سر ودریدی او داسی غږ یی وکړ(اِی خلګو الله پاک پر تاسی حج فرض کړی وحج ته راسی)نو حق تعالی دغه ږغ دټولو خلګو داروحانو وغوږو ته ورساوه نو دهر چا دپاره چه حج مقدر وُ ودغه غږ ته یی لَبَّیْک ووایه، دا هغه پټی د شوق سکروټی دی چه په زرها وُ پلی او سپاره دحج کولو زحمت پر سر اخلی او د بیت الله شریفی په لیدلو خپلی سترګی رڼوی- دا ګواکی دهغې دوعا دمقبولیت اثر دی چه حضرت ابراهیم علیهِ سلام کړیده، هغه وخت چه یی شیر خوره حضرت اسماعیل علیهِ سلام او دهغه مور بی بی ها جره

په وچ او بی اوبو اوډبرینه ﻣﺨﮑﻪ کښی لیری دهرډول ابادی نه پریښول ،داسی دوعا یی وکړه-

**ًدَةً مِنَ النَّاسِ تَهْوِیْ اِلَیْهِمْ (سورت ابراهیم آیت ۳۷)فَا جْعَلْ اَف**

ژباړه:وګرځوې زړونه دځنی خلګو مایل په مینه چه راسی دویته.

**Download from:aghalibrary.com**

# «د وهمه بر خه د حج احکام»

سوال:څوک چه د حج اراده وکړی څشی ړومبی لازم دئ ؟

جواب:۱:- دحج دپاره حلالی پیسې او حلاله نفقه لازمی کار دی په حرامو پیسو لکه د غلا -درشوت –دیتیم په پیسو یا په معامله اوتجارت کښی په ظلم او درواغو دنورو حق خوړلی وی پدغه ډول پیسو او نفقه حج کول څه مفاد نلری –چه حلالی پیسی برابری سوی

۲:بیا به نو د عمرې او حج په مناسکو ښه ځان خبر کړې او پوهه به تر لاسه کړې دغه دمناسکو کتاب ځوواره ولولې اودځان ملګری یی کړه هر وخت ورته مراجعه کوه.

۳:چه دکوره دحج په نیت وزې په بسم الله بیا به دری واره الله اکبر ووایی

۴:کله چه په موټر یا الوتکه کښی کیناستې دا دوعا به ووایی(سبحان الذی سخرَلنا هاذا وما کنالهُ مقرنین وانا اِلی ربنا لمنقلبون—بیا به نو دا دوعا ووایی الهی زه له تا نه پدې سفرکی دنیکی اوتقوا او دداسی عمل چه ته په خوښیږی غوښتنه کوم الهی دا سفر راته اسانه اوپخیر یی انجامکړی الهی ته دسفر تر ټولو ښه ملګری یی آمین.

## سوال:دحج فرض څودی____؟

جواب:حج د اسلام پنځم رکن دی او دری فرضونه لری.

۱: احرام تړل دحج دپاره.

۲: د ذالحجی (دلوی اختر دمیاشتی )پرنهمه په عرفات کښی حضور.

۳:دبیت الله شریفی طواف.

لمړی فرض احرام:-

د نارینه دپاره عبارت د دوو ټوټو تکر څه دئ چه حاجی صاحبان یی دمیقات یا دهغه څه دمخه داسی اغوندی چه یوه ټوټه یی لنګ او بله ټوټه




یی څادر یا پټو غوندی پر ځان راپیچل کیږی په احرام کښی باید سر او دپښو بجلکی پټی نوی ،دنارینه دپاره افضله داده چه دسپین ټکره څه احرام برابرکړی ولی په رنګه ټکر کښی هم صحیح دئ ، مهمه خبره داده چه په احرام کښی به هیڅ بخی نه وی وهل سوی یعنی ګنډل سوی به نوی او د احرام غوټه

کول هم ندی روا ،مګر قلفی ستنی استعماله ولای سې او همدا رنګه ګلمیخی غوندی غوټی چه بیله ګنډلو ټنګیږی په لنګ او پټو پوری مما نعت نلری او چرمی یا پلا ستیکی کمر بند چه په ګل میخیو ټنګ سوی وی نه (په ګنډلو ) هم مما نعت نلری کو ښښ به کوې چه دیو عالم او پوهه سړی سره که با تجربه وی لا ښه ملګری سې او د احرام ترڅ او ځنی احکام ور څه زده کړې د احرام ترڅ یو دحج د فرضیاتو دی که ونه ترڅ سی حج صحت نلری.

چه احرام دی وتاړه لمړی نیت دزړه او په ژبه داسی چه (احرام می تړلی دفرضی حج د اسلام، یا دعمری دپاره )نو به نارینه په لوړ اواز او ښځی په کرار اواز تلبیه ووایی تلبیه داسی ده

**( لَبَّیْکَ اَلّٰاهُمَّ لَبَّیْکَ--لَبَّیْکَ لا شَرِیْکَ لَکَ لَبَّیْکَ -اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ—لَکَ وَالْمُلْکَ -لا شَرِیْکَ لَکَ )**

ژباړه:په خدمت درته حاضریم اِلٰهی په خدمت درته حاضریم—په خدمت درته حاضریم هیڅ شریک نسته تالره په خدمت درته حاضریم—جمله ثنا او صفت ښی ګنیی او برکت دئ تا لره پاچایی ده تالره—هیڅ شریک نسته تالره.

دغه به نارینه په لوړ اواز وایی تر څو هر څوک یی واوری هرشی چه دا ستا اواز واوری په ورځ دحشر به شاهدی اداکوی چه دغه انسان لبیک ویلی دئ ،مګر ښځی به یی په زړه کی وایی نه په لوړ اواز که دچا دغه لبیک نه زده کیدل نو هرذکر چه یی زده وی ودی وایی مثلاً قل هو الله- کلمه شریفه هر آیت چه یی زده وی صحت لری یا دی دکتاب له رویه ووایی.مهم نیت دئ نیت باید ډیر خلص وی مثلاً احرام می تړلی دعمرې یا احرام می تړلی دفرضی حج د اسلام، او لبیکَ دهر حاجی سره چه ملګری سوی اول به دری واره تلبیه و وایی او چه پر لوړه خیژې یا کښته کیږې هم به تلبیه دری دری واره په لوړ اواز وایی

دښځو دپاره احرام هغه روز مره عادی جامی دی او د احرام ټکری به پر سره وی مګر مخ به نه پټوی که پر مخ ټکری یا جالی را ځوړنده وی په مخ پوری به یی نه منښلوی څه به دمخه لری وی، ښځی جراپی او عادی بوټونه اغوستلایسی.

دنیت دپاره به وروسته مفصل معلومات وړاندی شی.

اوس نو چه نیت وسو او لبیک وویل سو نو به دوه رکعته سنت لمونځ ادا کړې په اول رکعت کښی به تر سورت فاتحې (الحمد الله)وروسته د ایُها الکافرون سورت ووایی او په دوهم رکعت کښی به سورت اخلاص(قل هو الله) ووایی سنت دی.دا دی هم باید پیاد وی چه د احرام تر تړلو دمخه که امکان ولری غسل کول یا او دس(وضو )کول سنت دئ چه په هغه به دی سنت لمونځ هم ادا کړې، که او به نوی نو تیمم هم صحیح دئ

که څه هم نن ورځ الحمد الله د سعودی دولت له خوا یا دنورو خیر اندیشه خلګو لخوا په هر میقات(هغه ځای چه دهغه ځایه احرام تړل کیږی )کښی داوداسه تازه کولو پو ره امکانات موجود دی او څه مشکل نه لیدل کیږی ،مسًله داده چه که څوک نا پاکه وی مثلا ښځه په عادت کښی وه یا په نفاس کښی وه او حتی که سړی جنوب هم وی احرام یی صحیح دی.شرط دادی چه تر میقات به بی احرامه نه راتیریږی که نه نو دم(پسه )دربانده ی لازمیږی آو که بیرته میقات ته وګرځیدی او احرا م دی وتاړه نود د م څه بیرته خلاصیږې

## سوال: احرام څه مانا :

جو اب:احرام د(حرام) په مانا دی یعنی ځنی اعمال چه په عادی ژوند کښی روا اعمال دی مګر د احرام په حال کښی پر سړی حرام وی نو هغه څوک چه احرام بنده وی هغه ته محرم ویل کیږی نو هر محرم مکلف دی چه دلاندی اعمالو څه ډډه وکړی:

-جماع (دميږه او ښځی شهوانی يو ځای کيده )منع دی

-ګنډلی جامې به نه اغوندې، رخچينه(خولۍ) نيکر او جراپې نا رينه نسی اغوستلای

-دنوکانو او وريښتانو اخستل منع دی،ددی دپاره چه و دغه عمل ته اړ نسی بايد داحرام تړلو دمخه خپل اضافی وريښتان ،لکه تربغل لاندی وريښتان ،فرض او سنت وخريل شی او نوکان واخستل شی.

-دداسی عمل څخه چه دو ريښتانو دتويدو باعث کيږی مثلاً د سر ګرول په زوره زوره يا ږمنځه ول د سر او ږيری دغسل او اوداسه په وخت کی دځان مښلو څه چه دخيرو او وريښتانو د تويدو باعث کيږی بايد ډډه وسی.

-خوشبويی او عطروهل منع دی حتی ځان به په خوشبويه صابون نه منځې

-دهرډول ژوندی شی وژل يا ازاره ول منع دی په استثنا دمضرو حشرو يا درنده حيوان چه دانسان ژوند ته خطر پيښوی لکه مار-لړم-زمری او داسی نور چه دهغو په وژلو کم شی نه لازميږی

- که بل غير محرم ښکار کاوه يا يې کم حيوان واژه محرم به مرسته نه ور سره کوی کو ښښ بايد وسی چه هيڅ ساکښ ته دازار باعث نسې

-درخته يا ددرختی ښاخ حتی يو بلګ ددرختی او واښه نسې پريکولای.

-دغاښو کريم چه خوشبويی ولری نسی استعماله ولای مګر مسواک يا خالی برس استعماله ولايسی

-جنګ يا شخړه که لفظی وی يا عملی بايد ونسی.

- محرم سړی به نکاح نه کوی او نه به څوک چا ته په نکاح ورکوی او نه به کومه ښخه دځان يا دبل دپاره غواړی.

ددغه اعمالو مرتکب ددم په ورکولو مکلف کيږی يعنی پسه به حلا لوی داحرام حالت هغه مقام دی چه انسان دمادی والی سره سره که خوراک ښاک ځنی وباسو د ملايکی سره په يوه رديف کښی راولی چه نفقه هم حلاله وی نو پدی حالت کښی الله جل جلالهُ ددغه خپل بنده هيڅ روا غوښتنه نه رده وی باور ولره.

دوهم فرض عرفات:-

عرفات دمعرفت يا پيژندنی په معنی دی ، روايت دی هغه وخت چه آدم عليهِ السلام او بی بی هوا دجنته څه مځکی ته را کښته سول نو په مختلفو ځايو کښی ودريدل دڅه وخت دپاره سره ورک وه څو چه په عرفات کښی يی سره پيدا کړه او توبه يی قبوله سوه هر مسلمان چه دذيالحجی (لوی اختر ) دمياشتی پر نهمه احرام بنده خپل ځان ودغه محل ته ورسوی هغه به په خپل مقصد رسيږی او د اللهُ جلَ جلالهُ له جانبه به يی توبه قبليږی او مغفرت به يی په بر خه کيږی. دعرفات غنډئ هغه کچنی ډبرينه غنډی ده چه حضرت ابراهيم عليهِ السلام دالله پاک په امر دهغه پر سر ودريدئ او غږيی وکړ د خد ای پاک بنده ګان يی دبيت الله شريفی وحج ته راوبلل.چه پر هغه مبارک ځای اوس يو سپين څلی ولاړ دی.

دذوالحجی يا لوی اختر دمياشتی پر نهمه پرهر حاجی فرض دی چه دغرمی له زواله وروسته بيا د مازديګر تر لمر لويدو پوری هلته حاضر وی ، مسئله داده چه که په سبب د سببو هلته حاضر نسو حج يی نه صحيح کيږی با يد بل کال يی دسره را وګرځوې، پر عرفات حضو ر پدغه موده کښی (دزواله وروسته بيا ترلمر لويدو پوری ) ولو يوه دقيقه هم وی په هر حالت کښی يعنی په ويښه، په خوب کی،په بی سدی کښی

يعنی کوما کښی، په پا کی کښی یا نا پاکی کښی، په اوداسه یا بی او دا سه په هر حالت چه حاضر سوې حج دی صحیح کیږی ،خو هر څومره چه ډیر وخت په عرفات کښی تیر کړی غوره دی د زواله دمخه عرفات ته حاضریدل ښه کاردی خو اصل وخت هم هغه دزوال وروسته شروع کیږی. پر دغه مقام یا مشعرالعظیم به هر مسلمان چه دحج کولو موقع پلاس ورغلې ده دزړه توبه باسی پر خپلو تیرو ناوړه اعمالو ،مؤمنه حاجی حق تعالی په رشتیا او دزړه په توبه راضی کیږی او خوشحالیږی او پر دغه مقام دی الله جل جلا لهُ توبه قبلوی او روا غوښتنه چه دپاک الله له درباره وکړې درکول کیږی ،دغه مقام درحمت دئ او درحمت دروازې دصادقه حاجیانو پر مخ خلاصی وی ددغه ځایه څخه باید پوره برخه واخلې دغه ورځ او دغه ځای دعفوی اورحمت دغوښتلو ځای دی اِ مؤمنه مه غا فله کیږه ،دعرفات دعونډئ په لمن کی غټی

ډیری دی چه هلته سرورکا ءنات محمد علیهِ السلام دعرفات په ورځ دریدلی دی او دخپل ټول امت دپاره یی د الله جل جلا لهُ څه عفو اوبخښنه غوښتیده دهغه مبارک ټولی دوعا وی دحق تعالی په دربار کښی مقبولی وې، الله مودی په ورځکی دحشر دده په امتیانو کی دقبرو څه را وپاڅه وی آمین یا ربالعا لمین

محترمه حاجی صاحب اومحترمی حجاڼی داول مازدیګر پر مهال ځان ددغه غنډی لمنی ته ورسوه هغه ځای چه زموږپیشوا محمد صلی اللهُ علیهِ وسلم هلته دوعا کړیده پر هغه ځای زرغونه یا پسته یی رنګه خیمه وهی دلته به ځان ورسوې او لکه نوی پیدا سوی مؤمن

دهغه ځایه را وګرځې،دعرفات علامې دسعودی دولت له خوا هر ځای لګیدلی دی ،دعرفات دمسجد دمحراب دخوا نیمایی په عرفات کښی شامله نده. ،مؤمنه حاجی صاحب دغه ورځ به ټوله په دوعا او ذکر تیره وې چه بیا دا موقع دنیک بختا نو په لاس ورځی ،مؤمنه دالله پاک د رحمت دسترخوان غوړیدلی دئ خپل قسمت دی ځنی واخله غافله مه اوسه په خوشی خبرو او مجلس دا ورځ مه تیره وه ډیروالی دوخت دتیریدو په عرفات کښی غوره کاردی،ترلمر لویدو وروسته به دمزدلفې شریفی ولور ته حرکت وکړې دماښام لمونځ به دلته نه کوی ،په عرفات کښی ځنی اعمال واجب او ځنی سنت دی په راتلونکی کښی به واضح شی په عرفات کښی به په ژړا او زاری دخدای په حضورکی توبه کاږې ،ځانته مور او پلارته او ټولو دوستانو اشنایانو او هغه چاته چه ستا څه یی ددوعا غوښتنه کړیده دوعاوی وکړې ټولو مسلمانانو ته مړو او ژوندو ته داخرت او په ژوند کی دکامیابي او مغفرت دوعا ګانی وکړې فکر دی اوسه چه پدغه مقام کښی ددنیا دپاره غوښتنه ونکړې هغه پخپله چه خدای ستا دپاره مقدره کړیده در رسیږی(یعنی دپیسو او مال خواست تیټ خواست دئ) الله پاک پدی مورد کښی فرما یی

**وَمَنْ اَرَادَالْاَ خِرَ ةَ وَ سَعی لَهَا سَعْیَهَا وَ هُوَ مُؤمِنٌ فَاُو لآءِکَ کَانَ سَعْیَهُمْ مَّشْکُوْراً (۱۹)(سورت اسراء)**

ژباړه: هر څوک چه غواړی آخرت(جنت) او سعی کوی دهغه دپاره سعی لا یقه(په طا عت د الله )حال دا چه دی (خالص)مؤمن هم وی نو ددغه کسانو سعی ده مقبوله(په نزد دالله)


اوسنو چه دعرفات دورځی لمر ولویدئ دما ښام لمونځ مه کوه د مزدلفې شریفی وخوا ته حرکت وکړه دعرفات او مزدلفې شرفی تر منځ فاصله فقط څلور ما یله ده نو که وکولای سی پیاده دا فاصله طی کړی ډیر خلګ پیاده ځی دیو ی ډلی سره ځان مل کړه نن سبا په بسونو کی خلګ ځی بسونه دتعداد په لحاظ دومره دی چه ټوله لار ترافیک جاموی او دغه څلور میله لار په اته ساعته کی وهی چه هم دسړی پښی پړسیږی دډیری ناستی له کبله په بس کښی او هم دسړی لمونځونه پر موقع او ترتیب مشکل کیږی نو دپلی تګ څه مه ویریږه هم ثواب لری هم ټوله منا سک په ښه صورت اجرا کیږی خوښه دی خپله خپل توان ته ګوره او هم به په عرفات کښی دحرکت په وخت ځان سپک کړی او ا ودس به نوی کړې ځکه چه په عرفات کښی تشنابونه ډیردی او په مزدلفه شریفه کښی تشنابونه نسته نو به داحتیاط دپاره یو بوتل اوبه دځانه سره چه ستا اودس په تازه سی ولرې نو که هلته دیو ملګری سره کمک وکړی څه وخت چه دی اودس تازه کوی ته اوبه وروا چوې او بیادی دي تاته اوبه درواچوی ښه کاردی هم ثواب لری او هم به مو اوبه سپمولی وی ،هلته چه ورسیدلاست نو به د ماخوستن او ماښام لمونځونه یو ځای داسی

ادا کړئ:یو اذان به وکړئ بیا به نو دری رکعته دماښام لمونځ په جماعت وکړئ ، په نیت کښی به قضایی نه وایی فقط دری رکعته دما ښام فرض لمونځ پدی حاضر وخت بیابه نو دوه رکعته سفر یانه دماخوستن لمونځ په جماعت ادا کړئ یعنی یو اذان او دوه اقا مته وروسته به اول دوه رکعته دماښام سنت بیا به دوه رکعته دما خوستن سنت او بیا دری رکعته وتر ادا کړئ یوه کچنی خلته دډبرو دټوله ولو دپاره دځانه سره ولره چه شیطانان په وولې داختر داولی ورځی لپاره اوه ډبری پکار دی چه یوا زی لوی شیطان(جمرة العقبه ) هغه چه دمکې شریفی وخواته اخری شیطان دی په ویشتل کیږی او داختر په دوهمه او دریمه اوڅلرمه ورځ دری سره شیطانان ویشتل کیږی هر شیطان په اوو ډبرو ویشتل کیږی یعنی (۲۱ )(۲۱ )(۲۱ ) یعنی ټوله ډبری کیږی (۷۰ ) ډبری د احتیاط دپاره یو څه ډیری در سره واخلی ځه ویل کیږی یوه ډبره غلطه سی نوعوضی ډبره یی باید ولرې ،شیطانان درې دی په دوهمه ورځ شروع دکچنی شیطان څه بیا میانه شیطان او په اخر کښی لوی شیطان ویشتل کیږی،څه سردی په له ګرځوم حاجی صاحب محترمه چه ډبری ټولی شوې،نوبه ځان دمشعرالحرام وکچنی غره ته ورسوې دمشعرالحرام غر چه دعرفات له خوا راځې دچپه لاس وخوا ته چه دا لوی غر ګورې ددغه غره په اخره کی کچنی غردی ددی غره پر سر یو کچنی تعمیر واقع دئ ددغه غره لاندی به تم سې که دی دځانه سره یوه مصلی درلوده لا ښه استراحت به پر وکړې اوهم لمونځونه ترڅو سپیدې وچوی په مزدلفه کی دا وخت توپونه وشتل کیږی نو اصل واجب وخت ددغه توپو څه شروع کیږی چه هر حاجی تر لمر څرک پوری دمزدلیفې شریفی په ساحه کښی باید وی او که دسپیدو دمخه دمزدلیفی څه ولاړې بیا دم درباندی اوړی مګر که بیرته را وګرځیدې او دلمر څرک دمخه دمزدلیفې شریفی ساحې ته داخل سوې نو ددم څه خلاصیږې،دلته نا توانه مریض اود ډیر عمر خاوندان چه ضعیفه وی او دهغو کمک والا او یا ضعیفه ښځی او دهغې محرم ته استثناده او مکلف ندی چه په مزدلفه کښی پاته سی ،دغه شپه په مزدلفه کښی دشب قدرد شپې زر(۱۰۰۰) مراتبه دفیضه ډکه شپه ده که دسهار تر لمانځه وروسته دمشعرالحرام غره ته پورته سې نو هلته دی الله جل جلا لهُ ټوله باقی مانده ګناهونه که په عرفات کښی نوی عفو سوی دلته در بخښل کیږی ،زموږ غم خوره محمد علیهِ السلام ته پر دغه مقام دامت هغه ګناه ګاران چه د ګناه دثقلت په

خا طرپر عرفات نه وه بخښل سوی دلته ور وبخښل سوه ، خدای پاک دی موږ دمحمد علیهِ السلام دبخښل سوی امتیانو په جمله کښی راولې آمین.

دسهار تر لمانځه وروسته د تشریق تکبیرونه شروع کیږی او تلبیه نوره ختمه سوه فقط داختر په درو سرو ورځو کښی تر هر فرض لمانځه وروسته به د تشریق تکبیرونه یووار وایی داسی ( اللّٰهُ اَکْبَرْ اللّٰهُ اَکْبَرْ لاَ اِ لٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرْ اللّٰهُ اَکْبَرْ وَ لِلّٰهِ الْحَمْد ) دلمر څرک پروخت به دمینا شریفی پر لوری حرکت وکړې هلته به داختر په اوله ورځ یعنی دذوالحجی پر لسمه یوازی لوی شیطان (جمرةالکبرا ) په اوو ډبرو وَولې ، په دې مورد کښی به دحج دوا جباتو په روښانه کولو کښی پوره توضیحات ورانـدی سی ،تردغه وروسته به پسه دشکریی حلال کړې دشکریی په نامه نه داضحیی په نامه که دی داضحیی په نامه حلال کړئ نو به دشکریی دپاره بل پسه حلا لوې،تر هغه وروسته به سر وخریی دسر خریل که دټوله سر وریښتان وخریل شی یا د ښځو دپاره یا هغه نارینه چه اوږده وریښتان لری لکه څوڼی نو به دټوله سر یا لا اقل دسرد وریښتانو دڅلرمی برخی وریښتانو څوکی به د ګوتی دیوه بند په اندازه غچی کړی تردغه وروسته حاجی صاحب حلال سو کولای سی چه احرام خلاص کړی اوخپلی عادی جامې واغوندی تر هغه وخته چه دی فرضی طواف او دصفا او مروا سعیی نوی کړې دخپل میړه یاخپلی ښځی سره شهوانی نزدیکت نسی کولای دغه ته شرطی حلالی وایی نور هرڅه درته روادی نو هغه وخت چه دی طواف او سعیه خلاصه کړه نو پوره حلا لیږې.داختر داولی ورځي په اعمالوکی ترتیب واجب دئ یعنی اول دلوی شیطان ویشتل بیا دپسه حلال ول تر هغه وروسته دسر خریل دا ترتیب واجب دی که قصداً داترتیب غلط سی نو دم لازمیږی خو طواف فرضی پدی ترتیب کښی شامل ندئ مثلاً کولای سې چه دپسه تر حلالۍ اود سر تر خریلو دمخه فرضی طواف وکړې پدی تفاوت چه پدی صورت کشی طواف په احرا م کی کیږی او که پسه حلال کړې او سر وخریی نو طواف په عادی جامو کی کیږی

دریم فرض: طواف افاضه یا طواف الزیارت یا طواف فرضی دحج:-




طواف هم دزړه نیت غواړی مثلاً دفرضی حج داسلام ،یا دواجب عمرې ،یا واجب طواف الوداع (درخصتی طواف) یا سنت طواف القدوم ،یا نفلی طواف په نیت کښی به دا ستا په زړه کښی واضح وی چه څه ډول طوا ف غواړې چه وکړې.

دفرضی طواف نیت: (الهی اراده لرم داوه شوطه طواف پردغه کعبه شریفه دفرضی حج داسلام الهی راته اسانه یی کړی او را څه قبول یی کړې )دابه په داسی حال کښی نیت کوی چه دحجر اسود پربرابرپر خط یو څو انچه شاته مخ به دحجر اسود وخواته واړوې او د دواړه لاسو اورغوی به دحجر اسود وخواته داسی ونیسې لکه چه حجر اسود مسح کوې وبه وایی (بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُ اَکْبَرْ) بیا به نو خپل اورغوی مچ کړې دا داسی معنی لری لکه پخپله حجر اسود چه دی مچ کړی وی نو به طواف شروع کړې ، که دی طواف په احرام کښی کاوه نو به راسته اوږه لڅه کړې یعنی څادر یا پټو به تر راسته بغل لاندی تیر کړې او پر چپه اوږه به یی سر بیره واچوې ،فکردی باید وی چه دطواف دشروع په وخت کښی دحجر اسود تر خط را تیر نه یی کنه نو دغه شوط دی نا حسابه دی بیابه یی را گرځوې ،دطواف په اولو درو شوطو کښی به رمل (اوږی ښورول) نازکه ځغستا کوی یعنی تر عادی تګ یو څه چابک ، په نورو څلورو شوطو کښی رمل نسته عادی تګ دی او خپلی دو عا ګانی به وایی ،که ډیره ګڼه ګونه نوی ډهر شوط په پوره کیدو کی به حجر اسود مسح کوې او مچوی به یی دا په داسی حال کی چه داکار اسانه وی او هیڅ دچا د ازار او ټیلی ،یا دښځو سره دتماس باعث نسې که نه نو تر ثواب دی ګناه ډیریږی ،نو دحجر اسود مسح سنت کار دی مګر دټیلې او ټنبې څه ځان ساتل دطواف په وخت کښی فرض دی،داختر په اوله ورځ او دوهمه ورځ په طواف ګاه کی دومره ګڼه ګونه وی چه په عادی تګ طواف مشکل وی نو رمل(ځغاسته) خو ناممکنه وی نو په داسی صورت کښی ستا مکلفیت دی چه د ټیلې ،او تما س یا ډکه دښځو څه ځان وساتی چه تر ثواب دی ګناه ډیره نوی ، په اسلام کښی حرج نسته نو دسنتو یا مستحب په نه کولو څه شی نه لازمیږی،ځنی نا پوهه خلګ پدغه ورځو کی په زوره او ټیلو ځان حجر اسود ته رسوی چه دا کار بیله ګناه څه بله نتیجه نلری ډیر محتاط به اوسی

که دی د ګڼه ګونی له لاسه حجر اسود نسوای لیدلای او پر مځکه خط دی هم نسوای لیدلای نو دحج اسود پر برابری مخامخ لوړ وګوره هلته زرغون نیون ګروپ لګیږی دهغه دبرابرئ څه طواف شروع کړه ، دحجر اسود (هغه توره ډبره چه دجنته راغلې ده اود کعبې شریفی په یوه کنج کښی نصب شویده ) څخه طواف شروع او پرحجر اسود یو شوط(دوره )ختمیږی هره پلا چه نوی شوط (دوره ) شروع کیږی مخ حجر اسود ته اړوې اودلاس اورغوی به ورته نسې ګواکی مسح کوې یه او اورغوی مچوې او وایی (بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُ اَکْبَرْ)د طواف داوو شوطو(دورو ) دو عاوی به وروسته بیان سی،دحجر اسود او دکعبې شریفی د دروازې تر منځ فقط څلورګزه فاصله ده چه دغه حصه دکعبې شریفی ملتزم بلل کیږی دغه حصه ډیره مبارکه او په هغه پوری ځان منښله ول سنت دی اوپه دغه ځای کښی دچا هر روا خواست او غوښتنه درب العزت څه قبلیږی په یو مناسب وخت کښی به دا کا ر وکړې چه دچا دازا ر سبب نسې بل ددوعا دقبلیدو ځای پخپله دکعبې شریفی دروازه (دخالصی طلا څه جوړه

ده ) ده چه په هغه پوری لاس ټنگول او دوعاء کول هم قبلیږی خو دغه دوو ځایو ته ځان رسول دطواف په وخت کی لازم ندی بلکی په یوبل منا سب وخت کښی دا کار وکړه

اوس نو چه اوه شوطه طواف دی وکړئ نوبه دوه رکعته واجب لمونځ دطواف به ادا کړې د مقام ابراهیم ترشا سنت دی مگر نور په ټوله حرم شریف کښی حتی که در باندی پاته وی دمځکی پر مخ په هر ځای کښی صحیح دئ،او دا دی هم پیاد وی چه تر هر طواف وروسته دغه دوه رکعته (چه په اول رکعت کښی تر الحمدُ لِلّٰہ وروسته دالکافرون سورت او په دوهم رکعت کښی سورت اخلاص( قلْ هُوَ اللّٰہ ) ویل سنت دئ که نه نو هر آیت چه دی زده وی صحت لری ) واجب دی ، چه طواف وسو او واجب لمونځ یی هم وسو نوبه دصفا او مروا وخواته ورسې اوهلته به دصفا دغنډۍ او مروا دغنډۍ ترمنځ اوه سعیی (تگ )وکړې سعیه د صفا دغنډۍ څه شروع کیږی دصفا دغنډۍ څه بیا تر مروا تر غنډۍ پوری یوه سعیه ده اود مروا څه بیا تر صفا پوری بله سعیه سوه نوپدې ډول به اوه سعیی پوره کړې (دهری سعیی دوعا په راتلونکی کښی بیانیږی ،چه سعیی دی تکمیل کړې که دی دمخه پسه حلال کړیوی او سر دی هم خریلی وی نو دی اوه واره مبارک سه حج دی خلاص سو او حاجی سوې

او خدای جلَ جلا لهُ دی دټولو حاجیانو حج قبول او مبرور وگرځوی.

# (واجبات دحج)

## سوال: دحج واجبات څشي دي ؟

جواب: لکه چه مو دمخه وويل دفرضياتو په نه کيد و حج ناقص کيږي او بل ډول يې چاره نه کيږي خو چه بل کال د سره حج وکړي ،مګر واجبات هغه دي چه دهغه دنه کولو په صورت کښې به دم(پسه حلا لوي) نو حج دي صحيح دي او ځنې واجبات دي چه قضايي را ګرځول کيږي يعنې که فوراً بيرته را وګرځول سي نو ددم( پسه دحلا ليدو څه خلاصيږي)

واجبات دحج ۲۲دي- دا اول څلور چه دلته په ترتيب ذکر کيږي واجب دي مګر په نه کولو يې دم نه لازميږي ولې ترک دواجبو دي ځکه نو دهغه په را ګرځولو دي غاړي خلاصيږي.

۱:دطواف شروع دحجر اسود دبرابري څه نه وړاندې نه وروسته که دحجر اسود دخط نه را تير وي او طواف دي شروکړئ نو دا شوط( دوره) نه حسابيږي عوض به يې را ګرځوي.

۲:تر هر طواف چه اوه شوطه پوره سوه دوه رکعته واجب لمونځ به کوي دمقام ابراهيم وشاته(وشاته دا معنې نلري چه نژدې دهغه شاته) دحرم شريف په هر ځاى کښې چه وي صحيح دي که په يو سبب دسببو په حرم شريف کښې ونسو نو دمکې په ټوله ښار کښې ، که ّهلته هم ونسی نو دمځکې دکرې په هر ځاى کښې هر وخت را ګرځيدلاى سي .

۳ : ځنډيده دما ښام دلمانځه دعرفات په ورځ او يو ځاى اداکول د ماخستن دلمانځه سره په مزدلفه شريفه کښې

۴ :دځا ن ګوښه ساتل دجنګ يا دا ډول منا قشې څه چه په جنګ بدليږي او هم دا ډول داحرام په حال کښې دوخت ضايع کول په موسيقى اوريدلو –قطعه بازى –رقص کول هغه اعمال دي چه بايد ډېره ځنې وسی ،

نور ۲۲ واجب چه دهغو په ترک سره دم (پسه )لازميږي ،که ترک سی په دم يا پسه علاج کيږي او هم ځنې په بيرته را ګرځولو صحيح کيږي او ددم څه دسري غاړي خلاصيږي

۵ : داحرام تړل پر ميقات(هغه ځايونه چه داحرام دپاره ټاکلې دي) که تر ميقات بيله احرامه را تير سوى دم در باندي لازميږي ، ولې که بيرته وګرځيدې او هلته احرام او نيت داحرام پر ميقات راوګرځوى نو ددم څه خلاصيږي.

۶ :پر خپلو پښو طواف کول ،که بيله عذره په ويلچير کې طواف وکړې دم لازميږي ،عذر هغه دي جه که چا په ولاړي خپل فرضې لمونځ نسواى کولاى نو په ويلچير کښې طواف ورته روا دئ او دم نه پر لازميږي.

۷:طواف بايد په پاک بدن او اوداسه وسی،که دي بدن په نجاست يا وينو ککړ وی اوته په هغه خبر وې يا دي بې اودسه طواف وکړئ نو دم در باندي لازم سو، ولې که دطواف په جريان کې مثلاً بد ن يا احرام دي په وينو سو خبر سوې اوفوراً ولاړې اوهغه دي ووينځل نو ددم څه خلاصيږي يا دطوا ف په جريان کښې بې اودسه شوې نو فوراً لاړې اودس دي تازه کړئ ددم څه خلاصيږې اوکه دي طواف په دغه حال کښې پوره کړئ نو دم(پسه) لازميږي نو فکر دي ونيسه او ډير محتاط اوسه ،مثلاً يو څوک په مسجد حرم شريف کښې ناست وو پريشا نې يې ووئ نوبه ځي اول به او دس تازه کوي بيابه طواف ته ولاړيږي ، ځنې خلګ فکر کوي چه په محض پريشانې ترڅو ونه نړيږي اودس نه ما تيږي او

بیله اود سه طواف ته ولاړ سی د غه هغه حالت دئ چه پر سړی دم لازمیږی، د حرم شریف ودوا ړو خواوو ته د اوداسه تازه کولو ځایونه هّم دښځو د پاره او هم د نا رینه وو د پاره په پراخه اندازه موجود دی بس داولی پلا د پاره یی په پوښتنه پیدا کړه بیا به نو همیشه ارام او بی مسؤلیته خپل عبادت کوې حتی که اوداسه ته ضرورت هم ونه لرې اول د غه ځایونه پیدا کړه ډیربه را حت یی که ښځه په حیض یا نفاس یا نر په جنابت کښی فرضی طواف وکړی آووه پسونه پراوړی یا به غویی یا اوښ حلا لوی حتی پد غه حال کښی حرم شریف ته ننوتل روا ندی.

۸ :دطواف په وخت کښی با ید دچا عورت ښکاره نسی دښځی او نا رینه دپاره لازمه ده پر ځان پام ونیسی چه داسی حالت رانسی که نه نو دم پر اوړی.

۹ :دفرضی حج او د عمری تر طواف وروسته دصفا او مروا سعیه باید وسی ،خو دنفلی طواف وروسته سعیه نسته که وسی ثه ثواب ندی پر مرتب ،تر نفلی طواف وروسته دوه رکعته واجب دیاده مه باسه.

۱۰ :سعیه دطواف تابع ده نو که طواف پرخپلو پښو درباندی لازم وو او شرعی عذر دی نه درلود نو سعیه به هم پر خپلو پښو کوې او په ویلچیر کښی نه ده روا.

۱۱ :دعرفات په ورځ تر ماښامه دعرفات په مځکه کی پاته کیدل.

۱۲ : دغروب دمخه دعرفات ثه نه وتل واجب دئ.

۱۳ :دامام ثه وروسته دعرفات نه وتل واجب دئ.

۱۴ :په مزدلفه شریفه کښی شپه سبا کول او دجمرو (شیطانان) دویشتلو دپاره ډبری غونډه ول ددبرو اندازه به دزدالو دمند کی په اندازه وی ،تر بادام به کچنې او تر نخود به غټه وی.

۱۵ :دهری ورځی د شیطانانو ویشتل به د خپل معین وخت په چوکاټ کی وی مثلاً داختر داولی ورځی یوازی دجمره عقبه یا لوی شیطان ویشتل په اوو ډبرو د سهار د لمر ځرک ثه تر لمر لویدو پوری، دویشتلو په وخت کښی به داسی ورته ودریږې چه چپه اوږه دی دکعبی شریفی وخواته وی او راسته اوږه دی دمینا شریفی وخواته وی،ولی پر هر طرف هم مما نعت نلری ،داختر په دوهمه ورځ دری واړه شیطانان ویشتل کیږی په ترتیب ،اول کچنی شیطان مخ پر قبله به ورته دریږې خو پر هر طرف ممانعت نلری په اوو ډبرو به یی ولې،دوهم میانځوی شیطان مخ پر قبله به ورته سم سی او په اوو ډبرو به یی وولې پرهر طرف هم ممانعت نلری دادی باید پیاد وی چه پر هره ډبره چه ورغورځوی وبه وایی د پا ره درضا دخدای او دترټلو دشیطان(بِسْمِ اللهِ اللّٰهُ اَکْبَرْ) ډبره به دی شیطان ته وررسوې اوپه شا اوخوا اوخور کښی باید ډبره ولویږی اودباندی وه نه لویږی که نه نو صحیح نده عوض به یی بیا ولې دشیطانانو په شااو خوا کی ډبری مه را اخله ،د دوهمی ورځی دشیطانانو د ویشتلو وخت دزوال نه وروسته شروع بیا دسبا تر سپیدو پوری دئ،چه اول او دوهم شیطان دی وویشت نوبه را ګوښه سې ددالوی پایو سره به ودریږی او اوږده دوعا به وکړی دغه ځای هم یو ددوعا دقبلیدو ځای دی ،بیا به دریم شیطان ته ورسې او د پرو ن په شان به یی وولې دلوی شیطان تر ویشتلو وروسته دوعا نه کیږی ،ددریم دورځی دشیطانانو وسشتل هم ددوهمی ورځی په شان دی،نو که دڅلرمی ورځی تر سپیدو دمخه دمینا شریفی ثه ولاړی مکی شریفی ته نو دڅلرم دورځی شیطانان نه ویشتل کیږی ، ولی که سپیدی په مینا شریفه کښی در باندی وچاودې نو دڅلرم دورځی دشیطانانو ویشتل در باندی واجب کیږی، دری واړه شیطانان به ددریم دورځی په شان ولې پدې تفاوت چه دڅلرم دورځی وخت دسهار دلمر ختو ثه بیا تر لمر لویدو پوری دئ.

۱۲ :دمخه کیده دجمرهً عقبه دشکریی تر حلا لیدو.

۱۷ : دمخه کیده دشکریې دحلا لیدو تر سر خریلو.

۱۸ :حلا لیده دپسه په نیت دشکریې.

۱۹ :حلا لیده دپسه په مځکه دحرم کښې مینا او مکه شریفه.

۲۰ :دحج فرضي طواف باید داختر داولی ورځی دلمر ختو څه بیا ددریمی ورځی ترلمر لویدو پوری وشی که تر دغه وخت وځنډیږی نو دم لازمیږی، مگرهغه ښځه چه په دغه موده کښې ناپاکه وی دهغې دپاره څه شی نه لازمیږی.

۲۱ :دسرخریل دحرم په مځکه کښې.

۲۲ :دسر خریل داختر په ورځوکښې دفرضی حج دپاره د بل وخت خریل نه حسابیږی ،مگر دعمری د پاره دسر خریل حرم شریف شرط دی اووخت یی هم هغه دعمرې دادا کولووخت دی داختر په ورځو ندئ محدود.

۲۳ : طواف الوداع(درخصتی طواف ) تر طواف الافاضه یاطواف زیارت یا فر ض طواف وروسته واجب دی.

۲۴ :په احرام کی ځان ساتل دعطریاتو داستعمال څخه.

۲۵ :دځان ساتل دگنډلو جامو داستعمال څخه مثلاً که دی خولې پرسر کړه یا دی جراپی په پښو کړې او په دغه حال کی ۱۲ ساعته پاته سوی نوپسه لازمیږی اوکه تر ۱۲ ساعته کم وی نو پر هر ساعت به ۲۰ ریاله فدیه ورکړې او که تر یوه ساعت دمخه دی بیرته ایسته کړه نو څه شی نه لازمیږی داحکم دنارینه دپاره دئ البته داعمل که په نا فهمی یا سهواً وی.اوکه عمداً وشی بد عمل دی.

۲۶ :که نارینه سر پټ کړی یا ښځه مخ پټ کړی(که داسی ټکر پر مخ را ځوړند کړی چه دمخ څه لیری وی باک نلری نو دغه هر واجب چه ترک شی او بیرته ژر را ونه گرځی پسه یا دم لازمیږی

# (په حج کی سنت اعمال )

## سوال :- په حج کښې سنت اعمال څه شې دي ؟

جواب:- دحج سنت او مستحب اعمال (۳۷ ) دی ، د سنتو او مستحبو اعمالو په نه کولو څه شی نه لازمیږی مګر ترک د سنتو دی.

1 : غسل کول دمخه د احرام تر تړلو.

۲ :سپین رنګه نوي یا ښه پاک احرام که در ته میسر وی.

۳ :د نارینه د پاره تلبیه په لوړ اواز او د ښځی د پاره په کښته اواز ویل،

۴ :تکرار د تلبیی تر درو وارو پوری.

۵ : تر هر فرض لمانځه وروسته تلبیه ویل.

۶ :تر احرام تړلو وروسته دوه رکعته سنت کول.

۷ :د راسته اوږې لځوالی د طواف په اوو شوطو(دورو ) کښې وبس په بل ځای کی اوږه نه لڅیږی.

۸ : طواف قدوم د افراد حاجی د پاره (افراد هغه حج دی چه احرام یوازی د حج د پاره تړل کیږی او عمره نلری دا ډول حج یوازی د مکې شریفی د اوسیدونکی یا که ځوک د بل د پاره حج کوی ، په دی ډول حج کی د شکریې پسه هم نه دی لازم. )

۹ :درود او صلواةا و سلام پرنبی علیهِ السلام ویل.

۱۰ :پورته کول د دواړو لاسو پر برابری د حجر اسود وطرف ته د حجر اسود او(بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُ اَکْبَرْ)ویل یو وار- نه درې واره.

۱۱ :که ازدحام نه وی او ازا ر د خلګو هم نه وو او تماس د ښځو سره هم نه راتی نو د حجر اسود استلام( مسح کول ) او مچول سنت کار دی.

۱۲ :د زمزم د اوبو چښل په ولاړی.

۱۳ :دوعا کول پسله چښلو د زمزم د اوبو -د علم نافع او صحت د پاره.

۱۴ :د طواف په درو اولو شوطو(دورو ) کښې رمل(اوږې ښورول )البته چه ازدحام نه وی او رمل مشکل نه وی.

۱۵ :د صفا پر غنډۍ ختل ترڅو کعبه شریفه معلومه سی.

۱۶ پرصفا او مروا د لاسو پورته کول د دوعا د پاله.

۱۷ :د صفا او مروا ترمنځ سعیی کول په عادی تګ او زرغونو څراغانو تر منځ د نارینه د پاره نازکه ځغستا (چابک تګ ) سنت دی.

۱۸:تر عمرې او حج دپاره دټول سر خریل یادټول سر د وریښتانو لنډول دګوتی دیوه بند په اندازه سنت دی خو په یوه څلرمه دسر د خریلو یا لنډولو هم صحیح دی ولی ترک دسنتو راځی.

۱۹:دذالحجې یا لوی اختر دمیاشتی داتمی ورځی د لمرختو وروسته ومنی شریفی ته وتل.

۲۰:دنهم شپه په منی شریفه کښی تیرول او پنځه لمونځونه په منی شریفه کښی ادا کول ځکه چه ددغه لمونځو ثواب دحرم شریف تر لمانځه لا زیات دی.

۲۱:دذالحجی دنهمی ورځی دلمر ختو وروسته وعرفات ته وتل.

۲۲:دنهم دورځی تر زوال دمخه خپل ځان وخپلی قرار ګاه ته به عرفات کی رسول.

۲۳:په عرفات کی دمخه تر زوال غسل کول دامکان په صورت کی.

۲۴:ډوډې خوړل پر وخت چه ددوعا دپاره ښه وخت ولرې، حضرت رسولاکرم علیهِ السلام دعرفات به ورځ نه وو روژه نو که څوک د شکریی دروژو مکلف هم وی نو دعرفات او اختر په ورځو دی روژه نه نسی –دعرفات دورځی نه مخکی یا داختر د ورځی نه وروسته دی روژې ونیسی ځکه چه دغه دوې ورځی دعبادت او ډیرتګ اوراتګ ورځی دی چه بیا درته مشکله نسی.

۲۵:دجبل الرحمت یعنی عرفات دغنډۍ په لمن کی دریدل هلته چه پدغه ورځ پرهغه ځای چه  حضرت پیغمبر علیهِ السلام دریدلی دی خامه زرغون رنګه خیمه وهی.

۲۶:د دوعا دپاره دواړه لاسونه ډیر پورته کول واسمانته دومره چه دبغل وریښتان دی معلوم سی په ورځ دعرفات.

۲۷: په مزدلفه شریفه کی دشپې ډیره حصه تیره ول.

۲۸:په مزدلفه شریفه کی ډیره دوعا کول خصوصاً پرمشعرالحرام.

۲۹: دلمر راختو دمخه دمزد لفی شریفی څه حرکت کول دمینی شریفی پرلور.

۳۰:دمینی شریفی معینی شپې په مینی شریفه کی تیره ول نه بل ځای.

۳۱:دجمره عقبه(لوی شیطان ) دویشتلو په وخت کښی په دې ډول دریدل چه چپه اوږه دی دمکی شریفی وخواته وی اوراسته اوږه دی دمینی شریفی وخواته وی ،او په اوو ډبرو ویشتل پرهره ډبره (بِسْمِ اللهِ اَللّهُ اَکْبَرْ)ویل.

۳۲:داختر په دوهمه ورځ دشیطا نا نو ویشتل پسله زواله اوپه ترتیب شروع کول اول دکچنی شیطان څه او تر هغه وروسته منځوی (جمرة الوسطی )شیطان اوپه اخره کښی لوی شیطان هر یو په اوو ډبرو ویشتل.

۳۳:د اول او دوهم شیطانانو ویشتلو ته مخ پر قبله دریدل که څه هم دهره طرفه روا دی.

۳۴:دکچنی شیطان تر ویشتلو وروسته د لویو پایو سره مخ پر قبله دوعا  کول او هم دا ډول ددوهم شیطان تر ویشتلو وروسته دلمړی په شان دوعا کول مګر ددریم یا لوی شیطان تر ویشتلو وروسته دوعا نه کیږی.

۳۵:دتور خولی پسه حلا لول دشکریی په نامه ، دعمرې او حج دپاره یو ازی یو پسه حلا لیږی.

۳۶ :دټوله سر خریل هرڅومره چه وریښتان ډیر د سره ایسته سی هغومره یی ثواب ډیریږی.

۳۷ :صحبت د صالحانو او عا لمانو د احرام په وخت کښی .

دا لوړ ذکر شوی سنت دښه او مکمل حج او دډیر ثواب ګټلو د پاره غوره اعمال دی دا ځکه چه زموږوا لا مقامه پیغمبر علیهِ السلام هغه کړی او خپل امت ته یی دهغه دکولو هدایت کړیدی ، ولی که دکم مشکل له کبله ونسی نو په نه کولو یی کم شی پر سړی نه لازمیږی.

خدادی و ټولو حاجیانو ته دا توان ور به برخه کړی چه دحج ټوله فُرضیات-او واجبات—او سنت پوره او مکمل پر ځای کړی څو مبرور اوکامیابه حج یی په نصیب شی.آ مین یا رَبُّ العَالمِیْن.

## سوال : حج پر څو ډوله دی ؟

جواب: حج پر درې ډوله ادا کیږی:

لومړی:حج قران

دوهم : حج تمتع

دریم: حج اِفراد

۱ :حجِ قرانِ: قران دنژدی کیدو یا یو ځای کیدو معنی لری ځکه نو پهِ قران حج کی عمره او حج دواړه په یوه احرام ادا کیږی ددی حج درجه تر نورو دوو ډولو لوړه ده حضرت محمد علیهِ السلام خپل فرض حج په همدغه ډول کړیدئ او هغه حج اکبر هم وو.

نیت یی داسی دی( احرام می تړلی دئ دفرضی یا نفلی حج او عمرې الهی راته اسانه یی کړې اوراڅه قبول یی کړې ) په قران حج کی چه دعمرې طواف او دوه رکعته واجب دطواف ادا سول سعیه دصفاا او مروا هم کیږی مګر سرنه خریل کیږی او حاجی همداسی محرم پاته کیږی دحج تر وخته څه وخت چه یی دحج ټوله منا سک پر ځای کړه پسه دشکریی حلال سو او سر هم وخریل سو حاجی احرام خلاصوی او څه وخت چه یی فرضی طواف او سعیه هم اداکړه نو حاجی پوره حلا لیږی ، او طواف الوداع ( درخصتیِ طواف ) وروسته ادا کیږی چه طواف الوداع سعیه نه لری.

۲ :حج تمتع:دا ډول حج دحج قران څخه دومره فرق لری په حج تمتع کی اوله پلا یوازی په نیت دواجب عمرې احرام تړل کیږی او تلبیه ویل کیږی څه وخت چه حاجی د واجب عمرې طواف او سعیه وکړه (سعیه دطواف تابع ده یعنی که طواف فرضی وو سعیه هم فرضی ده او که طواف د واجب عمرې وو نو سعیه هم واجب ده او که طواف دنفلی عمری و و نو سعیه هم نفلی وی ، ولی باید په یاد مو وی چه تنها نفلی طواف سعیه نلری، عمره چه په هر ډول وی هم سعیه لری او هم دسر خریل فقط یوازی دحج قرا ن واجب عمره ده چه سر خریل یووار دحج دپاره کیږی اود عمرې دپاره نه کیږی ) او سریی هم خرایه نوداحرامه څه خلاص سو.

بیا به نو په اوومه دذالحجی یا دلوی اختر دمیاشتی به دحج فرضی یا نفلی په نیت به بل احرام تړی ، که دعمرې وروسته دمکې شریفی دښاره وتلی وی مثلآ مدینې منورې ته یا طایف ته یا وبل کم ښارته تللی وی نوبه دمیقا ته څه دحج احرام وتړی او دلوی اختر دمیاشتی داوومی ورځی د زوال نه وروسته به ځان ومینا شریفی ته ورسوی او شپه به هلته تیره کړی دمینا شریفی ټوله شپې پنځه یاشپږ وی په ژوند کی دغه

شپې دی چه انسان دملایکی په شان وی ، او که دمکی معظمې دښاره پسله عمرې نوی وتلی نو داووم په ورځ به دخپل استوګنځی څه دحج په نیت احرام وتړی او تلبیه به ووایی او تر زوال وروسته به مینا شریفی ته ووزی

او دحج ټوله مناسک به وکړی او پدی ډول حج کی دقران د حج په ډول د شکریی پسه حلا لیږی

۳ :حج اِفراد: یعنی یوازی حج ، دا ډول حج فقط یو احرام د حج دپا ره تړل کیږی ، په دې ډول حج کی هغه وخت چه د حج افراد په نیت احرم وتړل سو او تلبیه وویل سوه اودوه رکعته سنت هم ادا سول نو حاجی که فرصت درلودی نو به سنت طواف القدوم ادا کړی او دوه رکعته واجب دطواف به ادا کړی اوسعیه نلری که سعیه هم وسی نو دا سعیه دهغی سعیی په عوض کښی حسابیدلای سی چه دطواف فرضی وروسته کیږی. دا خاص دمکی شریفی داوسیدونکو دپاره دی او په دا ډول حج کی پسه دشکریی هم لازم ندی.

داډول حج نیت کول دبل چا دپاره هم کیږی او دبل دپاره حج کول پدی ډول حج سره ښه دی

دبل چا دپاره حج کول: ځانته شرایط لری:که دمړه دپا ره وی که ژوندی که هر ډول جنایت پیښ سو نو دهغه مسؤلیت ددغه سړی پرغاړه دئ چه دبل په وکالت حج کوی اودم (پسه ) به د خپلو پیسو څه حلا لوی نه دمٌوکل دپیسو څه یعنی چه وکالت دی قبول کړی حج به مطلق پاک دهره جنایته اوکم اوکاست څه ادا کوې که نه مسؤل یی. بل دا چه دبل پاره حج که حج اِ فراد وی ښه به وی ولی چه دشکریی پسه نلری دبل چا په وکالت حج کول هم د شکریی پسه نلری اوکه چا حج قران دبل دپا ره نیت کړئ یعنی اول عمره بیا حج دفلانی په نامه نو په حج قران کی د شکریی پسه دپاره دحلا لیِ. داحرامه لازم دئ دغه پسه به هم وکیل دخپلو پیسو څه حلا لوی نه د مٌوکل دپیسو څه ، چا چه دبل چا دپاره دحج وکالت قبول کړ پخپله دځان دپاره عمره نه صحیح کیږی ځکه چه دهغه په پیسو راغلی یی عمره او حج دهغه کیږی مګر د نورو عبا داتو او غوره اعمالو ثواب دی خپل دئ نوښه به دا وی چه حج اِفراد نیت کړی. او حج تمتع دبل دپاره نه کیږی . که دخپلو مور او پلار یا نیکه ګانو او انا ګانو دپاره حج افراد یا حج قران یی کاوه نوښه به داوی چه فرضی حج نیت کړی دفلانی او فلانی دپاره که پرهغه حج فرضی لازم سوی وو دفرضی حج غاړی به یی خلا صی سی اوکه فرضی حج نه وو پر باندی نو هغه حج یی په نفلی حج کښی حسابیږی ، په یاد ولره چه دلوړ ذکر سوو اشخاصو دپاره حج او عمره کول نه یوازی دهغه دپاره ثواب رسیږی بلکه دهغه څو چنده تا ته هم الله جل جلا لهُ ثواب درکوی. خو دادی باید په یاد وساتی چه که دی حج دمړو دپاره کاوه نیت به د فرضی حج کوی ، اوکه دی یوازی عمرې کولې نو به نفلی وی ،ځنی بی خبره عوام وایی چه که دی دبل پاره عمره وکړه او هغه حج نه وو کړی حج پر لازمیږی ، داخبره صحیح نه ده هرڅونه عمری چه دچا په غیاب کښی وکړی ثواب یی هغه ته رسیږی اوپه هغه سره حج نه لازمیږی ، داسی لکه څوک چه مکه معظمه پخپله وویني حج پر لازمیږی که مالی توان ولری که یی ونه لری دغه دده راتګ تر مکې شریفی دده توان دراتګ ثابته وی ،نو که څوک دبل دمزدور یا موټروان یا پرستار اویا په رسمی توګه او یا دیوازی عمری دپاره راغلی وی حج پر لازمیږی حتماً به یی ادا کوی که مړکیدی وصیت به کوی چه پر ما حج فرض سوی دئ او تر مرګ وروسته به یی ورثه دده د دارایی څه دحج وکیل نیسی چه دده دپاره حج ادا کړی او باقیمانده میراث دی ورثه واخلی.

## سوال: دښځو دپاره خاص احکام څه دی؟

جواب:

۱ :ښحی داحرام پرځای خپل عادی ګنډل سوی کالی اغوستلای سی مګر مخ په نه پټوی.

۲ :ښځی په احرام کښی بوټونه او جراپی اغوستلای سی مګر دستکشونه نسی اغوستلای.

۳ : ښځې په احرام کښې عطريات نسې استعماله ولاې.

۴ :ښځې په احرام کښې زيورات اغوستلاې سې مګر داسې چه ښکاره نسې.

۵ : ښځې به تلبيه په جهر(په لوړ اواز ) نه وايې.

۶ : په طواف کښې ښځې رمل(داوړو ښورول ) نه کوي.

۷ :ښځې د مياشتنۍ نا پاکۍ يا دلنګتون د ناپاکۍ په وخت کښې حرم شريف ته داخليد اې نسې او طواف به نه کوي که يې فرضي طواف پداسې حالت کښې وکړي اووه پسونه يا غويې يا اوښ به حلا لوي اوکه واجب دعمرې طواف په داسې حال کښې وکړي نو يو پسه به حلالوي.

۸ :ښځې نسي کولاې چه بيله شرعي عذره دشيطانانو دويشتلو لپاره وکيل وټاکي ازدحام عذر ندي بيا دي بل وخت وولي چه ازدحام لږ وي.

۹ :ښځې به دصفا اومروا دسعيې په وخت کې دزرغونو څلو په منځ کښې نه ځغلي.

۱۰ : ښځې کولاې سې چه دنا پاکۍ په وخت کې فرضي طواف و ځنډوي مګر وروسته به يې قضايې راوړي ځکه چه که فرضي طواف ونسي حج يې نه دی پوره سوی.

۱۱ :کم وخت چه د احرام دخلاصيدو وخت سو نو ښځه به پخپله يا دمحرم په لاس خپل دټوله سر يا لا اقل دسردوريښتانو د څلرمې برخې څوکې ډګوتې ديوه بند په اندازه غچې کوي ،مګر که دڅلرمې حصې دسر دوريښتانو کم غچې سي د احرامه نه خلاصيږي او دخپل روا ميړه سره نژديکت(جماع ) ورته حرام دی.

۱۲ :ښځې به دازدحام په وخت کې د حجر اسود داستلام( مسح کولو ) څه ډډه کوي.

۱۳ :د ازدحام په وخت کې ښځې ته دمقام ابراهيم وشاته دطواف ددوو رکعتو واجب ادا کول ضرور ندي په بل ارام ځاې کې دې ادا کړي.

۱۴ : وښځې ته دحج په سفر کې محرم شرط دئ که ښځه دمحرم سره مثلاً ورور زوي يا پلار سره حج ته روانه وه وميړه ته يې اجازه دمنع کولو نسته.

۱۵ : ښځې دنا پاکۍ په حال کې احرام او داحرا م نيت تړلاې سې او ټوله افعال دمنی شريفې ، عرفات اومزدلفې شريفې اجرا کولاې سې فقط حرم شريف ته به نه ننوزي.

۱۶ :که دښځې څه طواف الوداع يا درخصتۍ طواف دمياشتنۍ نا پاکۍ په سبب پاته سو ه معاف ده نه دی کوي.

# «د ریمه برخه دوعا ګانی»

دغه دوعا ګانی چه دلته به ذکر سی د اسلام د علماوو په اتفاق په ګوته سوی دی، ځکه چه د دوعا غوښتنه د االله پاک د در باره با ید دزړه غوښتنه وی که څه هم په ژبه وویل سی نو ددی اصل په نظر کی نیولو په اساس می دلته اکثره دوعا ګانی د پښتو ژبو خلګو د پاره په پښتوا ړولی او دلته می ذکر کړی دی ، څه چه په ژبه وایی دهغه په معنی پوه یی چه دزړه سره دی دژبی لار یوه وی یعنی په مورنی ژبه دوعا کول او دخدای پاک له در باره غوښتنه کول ډیره دزړه راځی.

دمکې شریفی وښارته دداخلیدو دوعا :-

یا االله دغه ستا حرم دئ او دغه امن ستا امن دئ اوزه ستا بنده یم راغلې دلیری ځایه یم دډیرو لویو ګناهونو او بدو عملونو سره –الهی ستا دعذابه ویریږم الهی ستا خاصه عفو می په نصیب کړې او وګرځوې ماله په دغه حرم کښی ستا قرار او ارا می –او په رزق راکړی ماله رزق حلال په فضل سره ستا یا رَبّ الْعٰلَمِین آمِیْنْ.

د کعبی شریفی د لمړی ځل دلید لو دوعا:-

**(اللهُ اَکْبَرْ –اللهُ اَکْبَرْ ــ لا اِلٰهَ اِلّا اللهُ وَ اللهُ اَکْبَرْ– اللهُ اَکْبَرْ– وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ )**

الهی ته سالم یی دهره عیبه او په تا سره سلامتیا ده داخل مو کړی جنت ته ای صا حبه د لوی عزت الهی خلاصی کړې ماله دروازی درحمت ستا دبخښنی او عفوی ستا .دفضل او احسان ستا .یا االله یا رحمن یا رَحِیْمَ–یا ربه زیات کړی شرافت او عزت ستا ددغه کعبې چه ستا بیته ده –او زیاد کړی شرافت او عزت دهغه چا چه زیارت ستا دکعبې کوی که حاجی وی که عمره والا یا اَرْحَمُ الرَّا حِمِیْن–الهی زه سوال کوم د تا څه د هغه څه چه سوال کړیدی دهغه سردار او بادار زموږ محمد علیهِ السلام او پناه غواړم دهغه څه چه پناه غوښتې ده دهغه څه زموږ پیشوا محمد علیهِ السلام. الهی رحمت ستا دی وی پر محمد علیهِ السلام او دده پرآل او اصحابو ټولو آمین.

۱: دطواف داول شوط (دورې) دوعا:-

**سُبْحَا نَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لا اِلٰهَ اِلا اللهُ وَ اللهُ اَکْبَرْ ــ وَ لا حَوْ لَ وَ لا قُوَّةَ اِ لا بِاللهِ الْعَلِیُ الْعَظِیْم ()**

ژباړه: پاکی ده االله لره –جمله ثنا او صفت دئ االله لره – هیڅوک بیله االله دعبادت وړ ندی

االله ډیر ستردی.هیڅ حرکت او قوت نسته مګر په االله سره چه ډیرښه لوړ اولوی دئ.

الهی ایمان می راوړی دی پرتا او تصدیق می دئ ستا پرکتاب(قرآن مجید ) او وفا می ده پر وعده ده ستا او متا بعت می پر سنتو دحبیب ستا ( محمد علیهِ السلام ) دی–الهی زه سوال کوم دعفوی او عا فیت دټو لو ګنا هونو څه تل په دین او په دنیا او اخرت کښی–کامیابی په جنت سره او نجات داوره ددوږخ څه–یا غالبه بخښونکې یا ښه درحم کونکو –او رحمت دی وی د االله پر خیر دمخلوقاتو محمد علیهِ السلام او دده پر اصحابو او پر موږ هم ددوی سره .

نو هر کله چه په هره دوره کی ورکن یمانی ته ورسیږی شروع به وکې په ویلو د

**اَللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِيْ الدُّ نْيَا حَسَنَةً وَ فِيْ الآ خِرَ ةَ حَسَنَةً وَ قِنَا عَذَابَالْنَّارِ .**

ژباړه: الهی ربه زموږ. را کړې موږ. ته په دنیا کښې نیکۍ او په اخرت کښې نیکۍ او وساتی موږ. د عذابه داور. - په تکرار تر هغه وخته چه وحجر اسود ته ورسیدې بیا به دواړه اورغوی د حجر اسود وخواته پورته کې او وبه وایی ( بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُ اَكْبَرْ ) دوهم شوط (دوره ) شروع سوه

ګټوره لار ښوونه: د طواف په جریان کښې باید هیڅ ځنډ رانسی یعنی د طواف په منځ کی توقف نه کیږی یوازی د فرضی لمانځه د جماعت په وخت کښې په هر ځای چه وې هلته به طواف ودروې لمونځ به په جماعت ادا کړې بیرته د هغه ځایه خپل باقی مانده طواف پوره کړه او همداسی د مړی د لمانځه د پاره ودریږه او لمونځ د جماعته سره ادا کړه او هم د جمعی د لمانځه خطبې ته به توقف کوې ا و په بل هیڅ حالت کی د توقف یا استراحت اجازه نسته او که دی استراحت وکړی طواف دی ناقص سو بیرته به یی د سره را ګرځوې ، مګر د صفا او مروا د سعیی په منځ کښې د استراحت یا توقف اجازه سته.

د طواف د دوهم شوط (دورې ) دوعا:

یا الله دغه ستا بیته ده او دغه ستا حرم دئ او دغه امان ستا امان دی او زه هم ستا بنده یم او اولاد ستا د بنده ګانو یم او دا هغه مقام دی چه پناه غوښتل کیږی په تا سره د عذابه د اور څه نو یا الله زما غوښی او پوست د دوږخ پر اور حرامی کړه الهی ایمان را لره محبوب وګرځوې.زما په زړه کی ایمان ښایسته کړې.الهی کفر او فسق زما په زړه کی بد او منفور وګرځوې الهی د حق پر لاره می برابر کړې الهی د قیامت په ورځ می ستا د عذابه او نا خوښۍ څه وساتې –ستا رضا او محبت می په نصیب کړې سره د متابعته د شریعت ستا او داخل مو کړی ټوله وجنت ته بیله حسابه.ای عزتمنده د عزتمندو. نو پر رکن یمانی به بیا اللهمَ رَبّنا شروع کړې ترڅو چه وحجر اسود ته ورسیږې نو دریم شوط (دوره ) شروع سوه د مخکی نۍ دوری په شان به عمل وکړې.

د دریم شوط(دورې ) دوعا:

یا الله زه پناه غواړم د شک او شرک څه ،د مخالفت کولو د دین څه او منافقت څه د بدو اخلاقو څه او د بد استعمال څه د مال او دارایی خپل او اهل وو اولاد خپل الهی سوال کوم د رضا ستا او د جنت.او پناه غواړم په تا سره ستا د قهر او غضب څه او د اوره د دوږخ ای غالبه ای لویه بخښونکې ای ښه د رحم کونکو یا ښه د سخاوتمندو او احسان کونکو الهی پناه غواړم په تا سره د تنګۍ او عذابه د قبر او پناه غواړم د فتنې څه د ژوندو.او د فتنې څه د مړو.الهی ستا رحمت دی وی پر خیر د مخلوقاتو محمد علیهِ السلام او دده پر آل او ټولو اصحابو با ندی دده او پر موږ. د دو ی سره. بیا چه رکن یمانی ته ورسیدی (اللهم ربنا ) به شروع کړی تر هغو به یی وایی چه و حجر اسود ته ورسیږې ږ. دریم شوط (دوره ) هم خلاصه سوه نو په نو رو څلورو ښوطو کی رمل(اوږې ښورول ) نسته پر حجر اسود په د تیرو شوطو (دورو پشان ) دواړه اورغو ی وحجر اسود ته پورته کړی او (بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُ اَكْبَر ) به یووار ووایی او اورغوی به مچ کړې نو څلرم شوط (دوره ) شروع سوه.

د څلرم شوط دوعا:

یا الله زما دغه حج قبول وګرځوې –او زما دغه کوښښ کامیابه وګرځوې.او زما ګناوی را وبخښې –زما دغه تجارت را بی تاوانه او ګټور وګرځوې ای خبر داره په هغو ټولو شیانو چه زموږ. په زړو کښی دی.وباسې موږ. د ګناهونو د تاریکیو څه وروښنایی ته د توبې الهی ستا رحمت غواړم—او پاکی دهری ګناه څه ستا دلوړی او ښې بخښنی په امید –او غواړم ګټه او غنیمت زما دهر ښه عمل او کامیابی په جنت سره یا د ټوله عالم ربه ما د دوږخ د اوره وساتې

یاربه قناعت می ستا په رزق او مقرراتو په نصیب کړې په رزق کښې برکت را واچوې او دهرڅه عوض په ښو سره راکړې.او درود وایم ستا پر پیغمبر محمد علیهِ السلام او دده پر ټولو اصحابو .

پر رکن یمانی به بیا اللهم ربنا شروع کړی تر څو و حجر اسود ته رسیږې پر حجر اسود بیا دنورو دورو په شان عمل کیږی نو څلرم شوط خلاص سو .

دپنځم شوط(دورې ) دوعا:

الهی په ورځ دحشر چه هلته بل رحمت نسته بیله ستا درحمته څه. ما دعرش تر سایی لاندی په سایه کړې - تنده می ستا دحبیب محمد علیهِ السلام دحوض کوثر په اوبو را اوبه کړې.الهی زه ستا څه سوال کوم او غواړم چه راکړی ماته هغه خیر او نبی ګنی چه ستا حبیب محمد علیهِ السلام هغه ستا څه غوښتی دی.او پناه غوړم په تا سره دهغه څه چه ستا حبیب دهغه څخه پناه غوښتیده –الهی نعمت دجنت می په نصیب کړې او هرهغه عمل او قول چه ما و جنت ته نژدې کوی او پناه غواړم په تا سره د اوره د دوږخ او دهغه اعمالو او اقوالو څه چه ما و دوږخ ته نژدی کوی.-بیابه درکن یمانی څه (اللهمَ رَبّنا ) شرع کړې تر څو حجر اسود راورسیږی. بیا دلاس اور غوی دحجر اسود وخواته پورته کوې او (بِسْمِ اللهِ اَللّٰہُ اَکْبَرْ ) یو وار وایی نو شپږم شوط(دوره ) شروع کیږی.

د شپږم شوط (دورې) دوعا:

الهی ستا ډیر حقوق پر ما باندی دی –هغه چه زما او ستا په منځ کښی دی –او هم ستا دمخلو قاتو ډیر حقوق را باندی دی هغه چه زما او ستا دمخلو قاتو ترمنځ دی الهی ستا حقوق چه پر ما باندی دی را وی بخښې ستا په رحمت سره - او هغه حقوق چه ستا دمخلوق پر ما یاندی دی الهی ته یې عوض ورکړې او ما ځنی خلاص کړې ستا په رحمت سره.او په حلا له نفقه می غنی کړې او دحرامی نفقې او ستا د نافرمانی څه می وساتې ای لوی بخښونکې ربه –سوال کوم دتا څه دعفوی او عافیت او دعفوی دایمی په دین او په دنیا او اخرت کښی، الهی سوال کوم دتا څه د هدایت او دتقوی.-پاک لمنی(پاک دامنی ) او غِنا او سوال کوم دتا څه چه ماته سمه او حقه لار راوښیی ای دحق او هدایت لار ښونکې خدایه.----

بیابه پر رکن یمانی باندی اللهمَ رَبّنَا شروع کړې ترڅو حجر اسود ته رسیږې او هغه اعمال چه په نورو شوطو کښی دی کړی دی هغسی اجرا کړې نو شپږم شوط خلاص سو اووم او اخری شوط شرع سو .

ګټوره لار ښوونه:که فرضاً شکمن وې چه دا به شپږم شوط وی که اووم شوط ، نو ښه داده چه کم عدد یی قبول کړې (شپږم )څه تفاوت نه کوی چه یو شوط اضافه وکړې خو که یو شوط کم سو ټوله طواف دی ناقص سو.

داووم شوط (دورې) دوعا:

الهی زه سوال کوم د تا څه چه ایمان می را کامل کړې.یقین او عقیده می په صدا قت را قوی کړې او رزق می را پراخ کړې چه پاک او حلال وی –او زړه راکړې عاجزه او ژبه راکړې ذکر کونکې ستا –توبه می قبوله کړی او په رشتیا توبه می په نصیب کړې الهی دمخه تر مرګ می توبه قبوله کړې او په وخت کی دمرګ راحت راکړې نه سختی –بخښنه او رحمت راکړې پسله مرګه –او عفو راته وکړې دتولو ګناهونو کبیره که صغیره وی په وخت کښی دحساب په لو ورځ دحشر او کامیابی راکړې په جنت سره او خلا صیت راکړې د اوره د دوږخ –ای غا لبه پر هر چا او اِی لویه بخښونکې یا اَرْحَمُ الرّا حِمیْن.یا الله ختم کړې اجل زما پر خیر باندی.او پوره کړې او میدونه زموږ او اسانه کړې کارونه زموږ د ددین او د دنیا او داخرت زموږ.نو چه رکن یمانی ته ورسیدی وبه وایی

**( اللهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِيْ الْدُّنْيَا حَسَنَةً وَ فِيْ الْآ خِرَ ةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ الْنَّا رِ وَ اَدْ خِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ الْاَبْرَارِ يَا عَزِيْزُ يَا غَفَّارُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن )**

ژباړه:یا اللهٔ زموږ ربه راکړې موږته نیکی په دنیا کی او نیکی په اخرت کی او ومو ساتې د

عذابه داور او داخل مو کړې جنت ته د نیکانو سره یا غالبه پر تولو یا بخښونکې یاربه دټوله عالم.کله چه حجر اسود ته ورسیدې طواف ختم سو خدای دی قبول کړی. د طوافو نیتونه په څلرمه برخه (فصل ) کی دنیتونو ترعنوان لاندی ذکر کیږی.

دوعا دملتزم شریف:-

ملتزم شریف دکعبې شریفی د دروازې او حجر اسود ترمنځ فاصله چه ټوله څلور زرع ده بلل کیږی داهغه مبارک ځای دی چه سرور کاینات محمد علیهِ السلام هلته دوعا کول او پر دغه ځای چه ځان و منبلوې او دزړه غوښتنه او د وعا وکړی حق تعلی یی حتماً قبلوی .

گټوره لارښوونه: فکر دی او سه چه دطواف په جریان کی دا کار ونه کړې چه په طواف کښی دی سکته را نسی ، اوبل چه ډیره گڼه گونه وی په داسی احتیاط به ځان ور ورسوې چه دنورو طواف ته مزاحم نسې ، ټیله او ټمبه به نکوې دښځو سره دډکې څه به ځان ساتې چه تر ثواب دی گناه ډیره نسی ، دطواف دخلگو سره ځان په دوره کی گډ کړه که څه هم ته طواف نه کوې په یوه یا دوو دورو کی ځا ن دکعبې شریفی دیوال ته ورسوه اودحجر اسود له خوا به اول حجر اسود مسح او مچ کړې بیابه خپل ځان په ملتزم پوری ومنبلوې او لاس به دکعبې شریفی په دروازه پوری ټینگ کړې دغه کار داختر پر دریمه او څلرمه ورځ چه ازدحام کمیږی اسانه دئ اودا دوعا به ووایی.

دوعا دملتزم شریف:-

یا خاونده ددغه قدیمی بیتې زمو ږغاړی دگونا هونو څه خلاصی کړه. اوغاړی دمیندو او پلرو زموږ–دورنو او خویندو زموږ- او داولادونو زموږ که مړه دی که ژوندی دگناهونو څه خلاصی کړه اوداوره ددوږخه مو وساته یا ارحمُ الراحمین یا ذول جلال والاکرام.یا اللهٔ ستا بنده یم ستا دبیتې په دروازه می لاس ټینگ کړیدی او ولاړ یم لاندی تر چار چوب ستا امیدوار دی درحمت یم ستا دعذابه ویریږم ای صاحبه د فضل اوکرم اوداحسان اللهٔ رحم وکړه پر عاجزی زموږ په امان کړه ویره زموږ او قبول کړه اعمال زموږ او ښه کړه احوال زموږ–او وگرځوه په طاعت ستا مشغولیت زموږ او وخیر ته رجوع زموږ او ختم کړه پر نیک بختی اجل زموږ دغه عاجزی زموږ ښکاره ده په حضور ستا او حال مو پټ ندی پرتا .امر کړی دی یو هغه مو ندی کړی–منع کړی دی یو هغه مو کړیدی–نه کیږی علاج زموږ مگر په عفو ستا عفو وکړه ای ښه دامیدو ای عزتمنده قبلونکې دسوالو غفور اورحیم یی یا ربُ العا لمینه اونوری دوعا گانی چه هرچاته دی زړه وی دکامیابی په دنیا او اخرت کښی.

مقام ابراهیم علیهِ السلام:۔

دغه یوه مبارکه ډبره ده چه دحجر اسود سره یو ځای دجنته راغلې ده دغه ډبره پخپله متحرکه وه او د حضرت ابراهیم علیهِ السلام په اراده به کښته پورته کیدل او هری خواته تلل او څه وخت چه حضرت ابراهیم علیهِ السلام دکعبې شریفی دخونی معماری کول پر هغی ډبری به ولاړ وو او پر دغه ډبره دحضرت ابراهیم علیهِ السلام دپښو نقش هم پاته دئ ځکه نو دا ډبره لکه حجر اسود هغومره مبارکه ده نوکه دوه رکعته دطواف واجب دامکان په صورت کښی دمقام ابراهیم وشاته وکړی ښه کار دئ ولی بل هر ځای یی کولای سې

دوعا د مقام ابراهیم علیهِ السلام:-

الهی ته ښه عالم یی زما پر پټ او ښکاره حال او زما ددین او ددنیا په حاجاتو ښه خبر یی یا بی نیازه ربه زما حاجتونه را روا کړه که ددنبا دی که داخرت او دنامرده احتیاج څه می وساتې ، الهی زما گناوی را و بخښه یا ربه ددغه کعبې مه پریږده زما گناوی مگر را وې بخښې او مه

پریږده زما هیڅ مشکل مګر را اسان یی کړې۔ او منور کړې زړونه زموږ او خاتمه مو پرښه عمل راولې الهی ژوند راکړې په اسلام کی او مرګ راکړې پر اسلام. آمین یاربُّ العالمین.

حجر اسماعیل علیهِ اسلام:-

حجر اسماعیل یا حطیم شریف دکعبې شریفی هغه جز دی چه د نعل پ شکل دیوال دکعبې شریفی نه دباندی واقع دی او هغه هم په طواف کښی شامل دی یعنی طواف دهغه ترشا کیږی نه چه دهغه په منځ کی تیر سې دغه لنډ دیوال اوس دښایسته سپین مرمرډبری څه جوړ دی.

دوعا د حجر اسماعیل یا حطیم شریف:-

الهی سوال کوم دتا څه دهغه څه چه سوال کړیدئ دتا څه ستا حبیب محمد علیهِ السلام او پنا ه غواړم دهغه څه چه پناه غوښتیده دهغه څه ستا حبیب محمد علیع السلام الهی په برکت ستا دښو نو مونو لوړو صفاتو پاک کړې زړو نه زموږ دهغه څه چه لیری کوی موږ ستا درحمته څه او مړه مو کړې پر سنتو دمحمد علیهِ السلام او په شوق ستا د ملاقات یا کریمه یا رحیمه.

دوعا داوبو د زمزم:-

دزمزم داوبو تر چښلو وروسته دا دوعا سنت ده الهی زه ستا څه دښه او نفع رسونکی علم غوښتنه کوم دپراخ رزق او شِفاَ دهر مرض څه غواړم یا ارحمُ الراحمین

حضرت محمد علیهِ السلام فرمایلی دی چه ښه ترینی اوبه دمځکی پر مخ اوبه د زمزم دی ، چښل داوبو دزمزم مخ پر قبله او په ولاړی افضله دی او دطواف نه وروسته یی چښل سنت دی ، دزمزم اوبه پر مخ او سر اچول هم سنت کاردئ او دزمزم په اوبو اودس تازه کول هم ښه کار دئ ولی استنجا به نه په وهې.

دصفا او مروا دسعیی دوعا ګانی:-

دغه لاندی تکبیرونه دهر شوط په شروع کښی ویل کیږی وروسته نوره دعا ویل کیږی

**.(اَللهُ اَکْبَرْ– اَللهُ اَکبَرْ –اَللهُ اَکْبَرْ کَبِیْراً وَالْحَمْدُ للهِ کَثِیْراً –وَ سُبْحَا نَ اللهِ بُکْرَ تاً وَاَصِیْلاً –لا اِ لهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَ هُ – و اَنْجَزَ وَ عْدَهُ وَ نَصرَ عَبْدَ هُ وَ هَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَ هُ لا شَیْءٌ قَبْلَهُ وَ لا بَعْدَهُ یُحْیِیْ وَ یُمِیْت وَ هُوَّ دَا ءِماً لا یَمُوتُ بِیدِ ہِ الْخَیْرُ وَ اِلَیْهِ الْمَصِیْرُ.)**

ژباړه:-الله لویدئ–الله لویدئ–الله لویدئ په لویی سره–ډیره ثنا او صفت دی وی الله لره

او پاکی ده الله لره سهار او ماښام–نسته بل څوک وړ دعبادت بیله الله څه چه یودئ–اجرا کوی وعدې خپلی او مرسته کوی دبنده خپل–او ماتوی ډلی په یوازی۔ نه د مخه ترده شی وو او نه وروسته–ژوندي کول او مرګ ټوله دده په اختیار دی–او ټوله خیر او ښیګڼی دده په اختیار دی او رجوع وده ته ده.

دسعیی داول شوط دوعا:-

یا الهی احسان او رحمت را باندی وکړې او ما وبخښې دټولو ګناهونو څه په تحقیق چه ته عزتمنده او صاحب داحسان او کرم یی یا ربه موږ وساتې داوره ددوږخ او داخل مو کړی وجنت ته دنیکانو سره–نسته بل څوک وړ دعبادت بیله تا څه یو یی الله–وګرځوې موږ سالم غنیمت او زیری پیدا کونکی په جنت سره ستا دصالحو بنده ګانو سره او دهغه کسانو سره چه تا انعام کړیدئ پر هغو باندی لکه صادقان او شهیدان چه

دغه ښه دوستان دی – الهی موږ سوال کوو دتا څه دهغه خیر او ښیګڼو چه ستا په علم کښی دی او پنا غواړو د هغه شر څه چه ستا په علم کښی دی – الهی ته عالم یی پرټولو غیبو موږ نه پوهیږو – نسته بل خدای بیله تا یا الله صلواة او سلام دی وی پر محمد علیهِ السلام او دده پر اصحابو ټولو .

یادونه:- پدغه دوعا کښی دجمعی کلمه ( موږ ) استعمال سویده دهغه مراد ټوله هغه کسان دی چه د صفا او مروا سعیی کوی.

په هر شوط کښی تردوعا وروسته به دا ایت مبارک ووایی

(اِنّ الصّفَا وَالمَرْوَةَ مِنْ شَعَا ءِرِاللهِ فَمَنْ حَجّ البَيْتَ اَوْ اِعْتَمَرَ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يّطّوّفَ بِهِمَا وَمَنْ تَطَوّعَ خَيْرًا فَاِنّ اللهَ شَاكِرٌ عَلِيْم ( ) ۱۵۸ آیت دالبقرې سورت

ښبو څه د الله دی که کوې څوک حج یا عمره ګنا ه نسته پر هغه چه سعیی کوی په منځ کښی د صفا او ژباړه:- په تحقیق سره صفا او مروا د (شکر قبلونکی ) او عالم دی. مروا اوهر څوک چه خیر(ښه) عمل کوی الله په هغه شاکر

دغه مبارک آیت د هری سعیی ددوعا په اخره کښی ویل کیږی ، کله چه د هری سعیی په اخره کښی د مروا یا صفا غونډۍ ته پورته سوې دواړه لاسونه به پورته کړې دری واره به اللهُ اکبر ووایی - په بله سعیه به شروع وکړې اوس چه دمروا دغونډۍ څه دصفا وخوا ته دوهمه سعیه شروع کوې.لمړۍ به هغه تکبیرونه چه په اوله سعیه کښی دی ویلی وه بیا ووایی وروسته به دا دوعا ووایی.

ددوهمی سعیی دوعا :-

تر تکبیرونو وروسته:-الهی تا ویلی دی چه غوښتنه وکړئ له ما څه زه مو دوعا قبلوم – غوښتنه کوو د تا څه یا الله را وبخښه زموږ ټوله ګنا هونه کبیره که صغیره دی پخوانۍ او تازه ګناوی –ای ربه زموږ واوریدئ هغه غږ چه بلنه یی کوله د پاره د ایمان(چه ایمان راوړئ پر رب خپل) موږ ایمان راوړیدئ پر تا یا الله بخښنه وکړې ګناهونو لره زموږ او و رژوې بدۍ زموږ را ومو پاڅه وی د نیکانو سره په ورځ دحشر او راکړې موږ ته هغه چه تا وعده کړیده پر قول درسولانو – او رسوایی مه راکوې موږ ته په ورځ کښی دقیامت او ته مخالفت نه کوې د وعدې خپل – یا الله پرتا مو توکل دئ او تا ته مو رجوع ده – اِی ربه بخښنه وکړې موږ لره او زموږ برادرانو ته چه تر موږ دمخه یی ایمان راوړی دئ او مه ګرځوې په زړونو کښی زموږ غش دموٌمنا نو سره یا رحیمه یا الله ما لره ګناوی سته په ما بین کښی زما او ستا او ګناوی سته په مابین کښی زما او ستا د مخلوقاتو یا الله هغه ټوله ګناوی چه په منځ کښی زما او ستا دی هغه را وبخښې او هغه ګنا وی چه په منځ کښی زما او ستا دمخلوق دی هغه راڅه واخلې – او په فضل سره خپل ما د احتیا جه په امان کړې – ستا مغفرت ډیر وسیع دئ – یا خاونده د سخا دکرم د عطا اوفضل او احسان – او صلواة او سلام دوی زموږ پر بادار محمد علیهِ السلام اودده پر اصحابو اپر موږ ددوی سره ټوله.

دصفا وغونډۍ ته چه پورته کیږې بیا به دانّ صَفا والمروة ایت تر پا یه ووایی بیابه کعبې شریفی ته وګورې لاسونه پورته کړه ا ودری وار ه اللهُ اکبر ووایه اوس به دریمه سعیه شرع کړې.

ګټوره لارښو ونه:- که دسعیی په هر ځای باندی وې او دفرض لمانځه اقا مت شروع شو هم هلته به ودریږې لمونځ به په جماعت ادا کړې او همدا رنګه د مړي لمونځ به ادا کړې او که د جمعې خطبه ویل کیده هم به سعیه ودروې لکه په طواف کښی وروسته به دهغه ځا یه خپلی سعیی ته ادامه ورکړې.

ددریمی سعیی دو عا:-

به هغه داولی سعیی تکبیرونه ووایی تر هغه وروسته دا دوعا خپله کړه: په شروع کښی

الهی را پوره کړې نورانیت زموږ –په تحقیق چه ته پر هر څه قادر یې – الهی زه سوال کوم دتا څه عاجل اوهم په اینده کښی دخیر او ثواب – الهی پناه غواړم دهر شر څه که په نژدی راتلونکی وخت کښی وی یا په لیری راتلونکی وخت کښی وی –یا الله محبوب وګرځوې موږ لره ایمان او ښایسته کړې زړونه زموږ په ایمان سره – منفور او مکروه وګرځوې موږ لره کفر ،نا فرمانی ستا ،اوفسق –او وګرځوې موږ له را شید ینو او رهنمایانو څه دښی لاری –یا الله پناه غواړم ستا په رضا ستا دقهر څه او ستا دعذابه څه الهی ثنا ویل پر تا باندی زما دشمیر دتوان څه دباندی ده لکه هومره چه تا ثنا ویلې ده پر ځان خپل –تا لره دی حمد او ثنا وی هومره چه ته په راضی کیږې –الهی نورا نیت غواړم په زړه کښی نورانیت په غوږو کښی نورانیت په سترګو او نورانیت پر ژبه باندی – او نازل کړې پر موږ ستا برکتونه او رحمتونه او نعمتونه (دایمان اونیکۍ) دهمیش دپاره چه هیڅ وخت نه زایلیږی۔الهی پناه غواړم په تا سره دهغه شیا نو دشر څه چه د شپې په تاریکۍ کښی داخلیږی او دشر څه دهغه شیانو چه داخلیږی د ورځی په رڼا کښی اودشر ه دهغه څه چه دباد ویا سیلۍ سره الووزی یا ارحمُ الرا حمین. چه دمروا غنډۍ ته ورسیدې بیابه اِنّ الصفا والمروۃ تر اخره ووایی دغنډۍ پر سر به لاسونه پورته کړې او دریواره به اللہُ اکبر ووایی .دڅلرمی سعیی دپاره به دصفا دغنډۍ پر لوری حرکت وکړې په اول کښی به تکبیرونه ووایی بیا به نو داسی دوعا وکړې

د څلرمی سعیی دوعا:-

الهی زه دتا څه غواړم خیر دهغه څه چه ستا په علم کښی دی او پناه غواړم دشره څه دهغه څه چه ستا په علم کښی دی –په رشتیا چه ته عالم په غیبو یې –ندی بل هیڅوک وړ د عبادت بیله تا څه – پا چایی تالره ده او په ښکاره حق یې –او محمد علیهِ السلام ستا استازیدئ صادقه پر وعده او امین دئ الهی زه دتا څه غواړم چه دغه نعمت د اسلام چه تا زه وهغه ته هدایت کړی یم بیرته زما څه مه اخله پر دغه اسلام او ایمان می درولې ستا حضورته او مرګ می پر اسلام او ایمان کړې – پاکی اوثنا ده تا لره الهی موږ شکر ندی کښلی ستا په حق شکر سره الهی زه ستا فقیر بنده دتا څه هیله کوم چه ته زما سره هغه سی وکړی چه ته اهل دهغه یې او زما سره هغه سی مه کوه چه زه اهل دهغه یم - الهی وګرځوې ما پی رو دښې طریقې ستا د حبیب محمد علیهِ السلام –چه لوړه وې حرمت او احترام دده او عزتمنده کوی کلمه دده- او ساتی وعدې اوزمه دده او کامیابی ورکوې وډلی ته دده او وبلنی ته دده ډیره وې تابعان دده او ډله دده چه ورته وفا کوی او مخالفت دده دسنتو نه کوی –الهی زه دتا څه هیله مندیم چه وګرځوې ما پی رو دهغه چه ستا رسول علیهِ السلام هغه کړیدی او پناه دهغه دمخالفت څه غواړم

وصلی اللہُ علی سیدِنا محمدٍ والہِ واصحا بہِ و علینا معهم اجمعین.وروسته به ووایی انّ الصفا والمروۃ تر اخره چه دصفا دغنډۍ سرته پورته شوې بیا به لاسونه پورته کړې او دری واره به اللہُ اکبر ووایی . دپنځمی سعیی دپاره به مخ پر مروا را کښته سې.

دپنځمی سعیی دوعا:-

لمړې تکبیرونه ویل کیږی بیا دا دوعا به وکړې:

الهی رحم وکړې پر عاجزی زموږ –او په امن کړې ویره زموږ –قبول کړې نیک اعمال زموږ او ښه کړې احوال زموږ – وګرځوې په طاعت او عبادت ستا مشغولیت زموږ –او وښیګښی ته مرجع زموږ – او ثابت کړې په بالا بود سره امیدونه زموږ – اوختم پر نیک بختی اجل زموږ- الهی زموږ عاجزی تاته ښکاره ده او پرتا زموږ هیڅ ندی پټ- امر کړی دی یو هغه مو ندی کړی – منع کړیدی یو هغه مو کړیدی نه خلاصیږو په بل څه مګر ستا په عفوی سره –عفوه وکړی اِی غوره د امیدوالهی سوال او غوښتنه دتا څه غوره ده- ته عفو کونکی، بخښونکی مهربانه او رحیم یې – عفو دی خوښه ده الهی موږته عفو وکړه – یا الله مه پریږده موږ ونفسونو ته زموږ یوه لحظه او ترهغه لا لږ زمان. الهی موږ پر خپلو ځانو ظلم کړیدئ که ته موږ ونه بخښې اوپرموږ رحم ونه کړې نو موږ دتاوانیانو څه یو قبوله کړه توبه زموږ په تحقیق سره ته غوره توبه قبلونکی اورحم کونکی یې .الهی غوښتنه کوم دتا څه چه توان را کړې د غوره کارونو او دبدو اعمالو دپریښودلو –او زړه سوی او مینه دبیچاره وو او غریبانو سره – بخښنه او رحمت وکړې پر موږ – دهغه ډلی څه مو جلا کړې چه تا هغو ته اراده دفتنې کړیده – الهی ستا حب او

محبت می په نصیب را کړه –او مینه دهغه چا چه ستا مینه کوی – او مینه دهغه اعمالو چه موږ نژدې کوی ستا وعشق او محبت ته او ستا درسول محمد علیهِ السلا م ومحبت ته. وصلی اللّٰهِ علی سید نا محمد و الهِ واصحا بهِ وعلینا معهم اجمعین ،آمین. چه دمروا غنډۍ ته نژدې سوې انّ الصفا و المروة آیت مبارک به تر اخره ووایی چه دغنډۍ سرته پورته سوې لاسونه پورته کړه دری واره اللّٰهُ اکبر ووایه. او که دی خاصه دوعا دځان یا دبل چا دپاره غوښته دلته یی وکړه.

دشپږمی سعیی دوعا :-

چه دمروا دغنډۍ څه را کوز شوې دصفا دغنډۍ پر لور ، ړومبي به هغه تکبیرونه ووایی چه په هره سعیه کښی دی ویل وروسته به دا دوعا خپله کړې:-

الهی ته تر هر چا ښه ملګري دسفر یی زموږ دسفر ملګري شې – نګه بان زموږ داهل اولاد شې زموږ ترشا – او بد رنګی راولې پر مخانو ددښمنانو زما مسخ کړې دوی پر خپلو ځایو چه وما ته درا رسیدو توان ونلری – یا الله تا لره دی هومره حمد او ثنا وی چه ته په راضی کیږی – الهی زموږ یوازنۍ هیله ستا رضا ده الهی مه شې راڅه ناراضه – ددوږخ داوره او ستا دقهره مو په امان کړې الهی پناه غواړم په تا سره دبدۍ دهغه څه چه تا راکړیدی او د شره دهغه څه چه راڅه منع کړیدی دی –اِی صا حبه دمحکم قوت ما وساته د شر څه د فتنو او خلاص می کړې دټولو مشکلاتو څه- او صالح کړې ظاهر او باطن زما- پاک او صاف کړې زړه زما دحسد او بغض څه –مه ګرځوې پر ما طلب دچا مګر را خلاص یی کړې – الهی منور کړې زړه زما ستا په نور – او مصروف کړې په طاعت ستا بدن زما – او خلاص کړې دفتنو څه باطن زما او مصروف کړې فکراو ذهن زما په قبول دوحدانیت او بی مثله حاکمیت ستا او وساتې زما زړه دبدو وسوسو څه دشیطان الهی پر ما وکړې دومره احسان چه نوی پر ما سلطنت دشیطان یا رحمانه یا رحیمه –وصلی اللّٰهُ تعا لی علی سیدِ نا محمدٍ والهِ واصحا بِهِ وعلینا مَعَهُمْ اجمعین. چه دصفا غنډۍ ته رسیږې بیا به انّ الصفا و المروة تر اخره ووایی چه دغنډۍ سر ته ورسیدې دری واره اللّٰهُ اکبر ووایه لاسونه پورته کړه او ځان او ونورو دوستانو ته دوعا وکړه نو داومی سعیی دپاره مخ پر مروا را کوز شه.

دصفا او مروا داوومی سعیی دوعا:-

ړومبي به هغه تکبیرونه ووایی چه دهری سعیی په شروع کښی ویل کیږی وروسته به دا دوعا خپله کړې:- الهی ختم کړې اجل زموږ پر خیر او ثابت وګرځوې په فضل خپل امیدونه زموږ- الهی موږ ته اسانه کړې رسیدل ستا ورضا ته – او په هر حال کښی صالح کړې عملونه زموږ- -یا دهلاکت څه نجات ورکونکې –یا شا هده دټولو رازونو- یا قدیم الاحسانه – اِی همیشه نیکی کونکې د بنده ګانو سره –یا خاونده د سخا یا خاونده دکرم اود اعطا –یا خاونده دفضل او احسان پر مخلوقاتو- یا الله زه سوال کوم دتاڅه دهغه خیر چه سوال کړیدی دتا څه محمد علیهِ السلام چه نبی او رسول ستا د ئ- او پناه غواړم د هغه څه چه پناه غوښتیده نبی او رسول ستا محمد علیهِ السلام – الهی وساتې ما په فضل سره خپل دشر څه د فتنو او عافیت راکړې دټولو تکلیفو –ښه او صالح کړې پټ او ښکاره (ظاهر او باطن) زما - دبغض او حسد څه پاک کړې زړه زما –یا الله مه پریږدې یوه ګناه زما پر دغه مقام مګر چه را عفو یی کړې او نه یو مقصد مګر را خلاص یی کړې او نه یو فساد مګر را اصلاح یی کړې او نه یوه مریضی مګر را جوړه یی کړې – اونه یو حاجت ددنیا او اخرت مګر را روا یی کړې چه په هغه کښی ستا رضاوی اوزموږ ددنیا او اخرت ګټه وی.

**آمین یا رب العا لمین ، و صلی اللهُ تعالی**

**علی خیرِ خلقهِ محمد رسول الله وآلهِ  واصحا بِهِ وعلینا مَعَهُمْ اَجْمَعِیْن یا ارحمُ الرا حمین**

. چه مروا غنډۍ ته ورسیدې بیا به دا آیت کریمه ووایی اِنّ الصفا والمروة ترا خره ووایی . سعیی دصفا او مروا خلا صه شوه خدای دی ستا او دټولو حاجیانو عبادت قبول کړی.

دوعا دعرفات:-

کم ذکرونه چه دعرفات په ورځ له زوال نه وروسته ویل یی غوره عمل دئ لاندی ذکر کوم

۱:- تلبیه ویل په لوړ اواز.

۲:-درب العلمین د اسماء الحسنی ( ښو نومونو ) ذکر کول.

**۳ :– لَا اِلٰهَ اِلَّاَ لله وَحْدَهُ لاَ شَرِیْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ یُحْیِیْ وَ یُمِیْتُ بِیَدِ هِ الْخَیْرُ و هُوَّ عَلَی کُلِّ شَیْ ءٍ قَدِیْرٌ .**

۴:- سورت د قُلْ هُوَ اللهُ تر اخره

۵:-کلمه شریفه.

**۶ :– اَسْتَغْفِرُ اللهَ اَلَّذِیْ لا الٰهَ اِلا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَ اَتُو بُ اِلَیْهِ .**

**۷ :– لا الٰهَ الا انتَ سُبْحَا نَکَ اِنِیّ کُنْتُ مِنَ الْظَّا لِمِیْنَ ()**

**۸ :–حَسْبُنَا اللهُ وَ نِعْمَ الْوَ کِیْلُ .**

**۹ :–حَسْبِیَ اللهُ لا الٰهَ الا هُوَ ،عَلَیْهِ تَوَکَلتُ وَ هُوَ رَبُّ الْعَرْ شَ الْعَظِیْمِ ()**

دغه لوړ ذکرونه په لوړ اواز تکرار تر څو چه کولای یی شې تر زوا ل وروسته بیا د ماز دیګر پوری ترهغه وروسته به د جبل الرحمت(درحمت دغره ) وخوا ته ورسې او دهغه په لمن کښی به د زرغونې خیمی سره مخ پر قبله و دریږې دواړه لاسونه به دومره پورته کړې چه دبغل ویښتان دی ښکاره شی دا لاندی دوعا به دزړه په عجز اوژړا دالله په دربار کښی خپله کړې.

دوعا :-

یا الله ته خدای یی ،نسته بلځوک ورړ د عبادت بیله تا څه –یو یی شریک نه لرې - پا چایی دټولو کا ءناتو تالره ده ، تالره دی حمد وثناوی یا الله–تا ته مو مخ دئ او پر تا مو توکل دئ ، یا رب العلمینه یا الله ما وګرځوې دهغه کسانو څه چه نن ورځ ته وخپلو ملا یکو ته په هغو فخر کوې یا ارحم الرا حمینه–یا الله ستا په توفیق او فضل تردغه عظیم الشانه مقامه او زیارت دبیتی ستا را ورسیدم مقتدی په سنتو ستا دحبیب محمد علیهِ السلام–یا الله هر ساءل لره عطا سته او هر امید وار لره ثواب سته او سته وهر رجوع کونکی تا لره ته احسان–یا الله تا ودرولم پر دغه لوی رکن ددین داسلام په امید دهغه فضلونو چه ستا سره دی–مه نا امیده کوه امیدونه زموږ–الهی ته عفو کونکی او کریم یی عفو دی خوښه ده عفو راته وکړې یا الله–رحمت ته دی امید واره یو–او دعذابه دی ویریږو–یا الله زیا د توب نه کوې پر سوالو مګر کرم او سخاوت او پرحا جا تو مګر احسان–یا الله زما حاجت وتا ته بل څه ندئ بیله ستا عفو او بخښنه دګناهونو او نا فرما نیو زما او رضا ستا ،او ستا رحمت پرما چه بیا قهر نوی او هدایت وی چه بیا ګمراهی نوی–او علم چه بیا جهل نوی او صالح عمل اوښه خاتمه وی الهی–ازادی داوره ددوږخ او کامیابی په جنت سره–یا عزیزو یا غفار–الهی ته علم لرې زما په ظاهر او با طن–الهی سوال کوم دتا څه اِی ښه عطا کونکې

خدایه ، یا الله وګرځوې دغه حج زما قبول او مبرور –او وګرځوې ګنا هونه زمونږ بخښل سوی –او کوښښ زمونږ لایق دشکر او عمل زمونږ صالح او قبول –الهی مه پریږدې مونږ لره پر دغه مقام ګناه مګر چه را وې بخښې او عفو یی کړې او مه یو حاجت چه ستا په فضل یی را روا یی کړې او نه یو پور مګر را ادا یی کړې او نه یو مریض مګر راصحت یی کړی –اونه یو مړې مګر چه رحمت پر وکړې.او نه یو دښمن چه خوار یی کړې –او نه یو حاجت دحاجتو څه ددنیا او داخرت چه تا لره په هغه کښی رضا وی او زمونږ په هغه کښی صلاح وی مګر را روا یی کړې او را پوره یی کړې –الهی مونږ سوال کوو دتا څه دهغه ښو چه سوال کړیدی ستا څه پر دغه عرفات بنده او پیغمبر ستامحمد علیهِ السلام او پناه غواړم دهغه شر څه چه پناه غوښتیده دهغه څه محمد علیهِ السلام پر دغه مقام –الهی نقل کړې مونږ پر دغه مقام دبد بختی څه و نیک بختی ته او داوره ددوږخ څه وجنت ته اودقهره څه ستا ورضا ستا ته او دفقر څه وغنی ته او د ذلت څه وعزت ته او دمخالفت څه دشریعت واستقامت ته دشریعت او دتولو اقسامو څه دشر وټولو اقسامو ته د خیر او مه ګرځوې دغه ګښت اخر ګښت دراتګ ودغه مقام ته زما ـالهی وګرځوې اخر دعمر زمونږ خیر دعمر زمونږ –او خیر داعمالو اخر داعمالو زمونږ او خیر دورځو ورځ دملا قات ستا –الهی مونږ سوال کوو دتا څه دجنت او هغه قول او عمل چه نژدې کوی مونږ وجنت ته او پناه غواړو د اوره ددوځ او دهغه قول او عمل څه چه نژ دې کوی مونږ ودوږخ ته الهی اجرا کړې پر مونږ هغه سی چه ته یی اهل یی نه هغه سی چه مونږ یی اهل یو –الهی نسته بیله فقره او عاجزی زما بله وسیله وتا ته دلاس دپورته کیدو –او نسته بله لار بیله ټکولو ددروازې ستا درحمت –الهی که زه جواب سم ستا درحمت دروازې څه نا امیده ، بل به دچا دروازه و ټکوم الهی یو ازی امید مو ته یی –که داسی وی چه یو ازی نیکو کاران به ستا څه امید کوی نو ګناه ګاران او بد عمله به چا ته مراجعه کوی الهی ته بخښنه وکړې ته ددغه کار اهل یی الهم اغفرلی ولامةِ محمد علیهِ السلام نوکه ته مو ترټې نو دچا څه به امید وکړو –الهی ستا سخاوت دومره دئ چه هیڅ ګناه ګاره به پر دغه ځای بی عفوی پرې نږدې - اللهم ربنا اتنا فی الدنیا حسنَةً وفی الاخر حسنَةً و قِنَا عذاب النا ر ، الهی ما وبخښې زما مور او پلار وبخښې زما او لادونه وبخښې زما ورڼه او خویندی وبخښې زما نیکه ګان او انا ګانی وبخښې او زما ټوله اقربا او اشنا یان وبخښې او ټوله هغه کسان چه زما څه یی غوښتنه ددوعا کړیده وبخښې او ټولو مسلمانا نو ته پوره عفو وکړې او ستا درحمت مستحق ټوله وګرځوې ددنیا او اخرت کامیابی ور په برخه کړې. (حاجی صاحب که وبل چاته دی خاصه دوعا کول نو نوم به یی واخلی مثلاً دصحت دپاره دمریض یا خاص نژدې مړی او یا هر نژدې دوست په نامه هم یادولای شې )

َوصلی اللهُ علی سیدِنا محمد علیهِ السلام والهِ واصحابهِ وعلینا معهم اجمعین یا ربُّ العا لمین آمین.

دماښام تر لمر لویدو وروسته به دمز دلفی شریفی پر لور حرکت وکړې.

## ګټه وره لار ښوونه:–

حاجی صاحب که دپښو دتلو توان ولرې زما مشوره داده چه دغه لاره دعرفات څه تر مزدلیفې شریفی پوری ټوله ۴ میله لار ده په عادی تګ په دوه ساعته کښی وهل کیږی اوکه په بس کی ولاړشی نو په ۸ ساعته کښی بسونه ډیری ګټه ګونی دبسونو او نورو عراده جاتو له لاسه وهی چه نه به دی لمونځونه او عبادت په ښه توګه ادا کړې اوهم په بس کښی ۸ یا ۱۰ ساعته کیناستل دی ستړې کوی او پښې به دی وپړسیږی ، کله چه دی د پښو دتګ اراده وکړه وبه وایی الهی را ته اسانه یی کړې اوراڅه قبول یی کړې چه دغه د پښو تګ پر هر قدم الله وتاته نیکی اوثوابونه درکوی ، دپیاده وو لاره ښه لنډه لار هم ده ، دعرفات په اخره کښی تشنا بونه دی هلته به ښه اودس تازه کړې دنورو حاجیانو سره به دمزدلیفې پر خوا حرکت وکړې په دغه اوداسه که دما خستن او ماښام لمونځونه چه یو ځای ادا کیږی وکړې ډیر به ښه وی ، په هرصورت یو دوه لیتره بوتل اوبه دځانه سره واخله چه په هغه به بیا دسهار دلمانځه دپاره اودس تازه کړې داو داسه تازه کولو په وخت کښی دخپل ملګری څه کمک وغواړه چه اوبه در توی کړی اوبه به دی په دې ډول وسپموې ، کله چه مزدلیفې شریفی ته ورسیدې هلته ځنی وظیفې دی چه دلته

یی په ګوته کوم:- اول به دماخستن او ماښام لمونځونه یو ځای په یوه اذان او دوو اقامتونو دملګرو سره ادا کړي ، اول به دماښام دلمانځه فرض او بیا په بل اقامت د ماخستن دلمانځه فرض اداکړه وروسته به دماښام دلمانځه دوه رکعته سنت ادا کړي او وروسته به دماخستن دوه رکعته سنت او په اخره کی دري رکعته وترا دا کړي ، او دماښا دلمانځه دادا کولو په نیت کښی به قضا یی نه وایی فقط پدې حاضر وخت دماخستن به وایی ځکه دغه ته قضایی نه ویل کیږی ځکه چه دشریعت په امر دا ځنډول شوی وو .

دوهم به تر خپل توانه پوری په دغه شپه کښی چه تر شب قدر افضله ده ، درود پر محمد علیهِ السلام ، او تلاوت دقرآن مجید یا نور ذکرونه دپاک اللهٔ و وایی ، هغه وخت چه دمشعرالحرام غره ته ورسیدې ( داغر دمزدلیفې شریفی د مسجد څه ۱۵۰ متره فاصله لری چه دعرفات له خوا راځې ستا دچپه لاس وخواته دغره په اخره کښی پروت دئ کچنی شانته غردئ او پر سر یی یو کچني تعمیر دی خو پوښتنه د با تجربه خلګو څه هم ښه کار دی په هرصورت هغه ته نژدې به هم دشیطا نانو د پاره ډبری ټولی کړې او هلته به استراحت وکړې دسپیدو پر وخت هلته تو پونه ویشتل کیږی نو تر توپو وروسته به دسهار لمونځ ادا کړې او بیابه که دی توان درلودی دمشعرالحرام غره ته به پورته سې او دوعا به وکړې داکار سنت دی کولای سې دغره په لمن کښی هم خپل خواستونه دپاک الله له درباره وکړې پر دغه مقا م دسړی ټوله ګناهونه بخښل کیږی او سړی پاک موءمن ګرځی دا عقیده به لرې ، دامت غم خوره نبی محمد صلی اللهُ علیهِ وسلم ته پر دغه مقام ټوله امت په شمول دهغو کسانو چه دګناه دثقلت په خاطر په عرفات کښی نه وه بخښل سوی ور وبخښل سوه او دټوله امت دبخښنی زیری ورکړه سو ، همداسی دی الله پاک زموږ حاجتونه هم را پوره کړی او خدای مودی دمحمد علیهِ السلام دبخښل سوی امتیا نو په ډله کښی د قیامت – دمحشر او د حساب په ورځ راوپا څه وی آمین ، دلمر ځرک دمخه به دمینا شریفی پر لور حرکت وکړې ، دسپیدو څه تر لمر ختو پوری په مزدلفه شریفه کښی پاته کیدل یو دحج د واجبا تو څه دئ یعنی که دسپیدو دمخه دمزدلیفې شریفی دمځکی څه ووزی دم(پسه ) لازمیږی ولی که بیرته په دغه موده کښی را وګرځیدې ولو یوه دقیقه هم وی د دم څه خلا صیږې.وجوب دمزدلیفې شریفی پر مریض او دهغه پر خادم ،اوهم پر ضعیفه ښځه اودهغې پر محرم نسته .

دوعا د مزدلیفې شریفی:-

یا الله موږ راغلی یو په جماعت سره او دتا څه دخپلو ګناهونو دعفوی او بخښنی شفا عت غواړو نا امیده مو مه جوابه وه الهی او راکړې هغه نیکې چه خپلو صالح بنده ګانو ته یی ورکوې – الهی مه ګرځوې موږ ددغه ځایه مګر کامیابه او پاک دټولو ګناهونو څه – یا خاونده دسخا اوعفوی- یا الله یا غفور الرحیمه الهی موږ ستا څه غواړو چه درحمت دروازې زموږ پر مخ خلاصی کړې زموږ دوعا ګانی مستجابی وګرځوې ،ستا نه هر مجبور او لا چاره سوال کوی الهی سوا لونه مو قبول وګرځوې الهی زموږ دپاره شاهد سې نه دا چه پر موږ شاهد سې – په دنیا کښی ژوندون راکړې دموءمنانو او مړه مو کړې مسلمین دایمانه سره – زموږ سوالونه دخپل رحم لا یق وګرځوې – الهی ستا درضا او بخښنی لا یقان مو وګرځوې اللهمَ رَبّنَا آتِنَا فِیْ الْدُنْیَا حسَنَۃً وَ فی الاَخِرَۃِ حَسَنَۃً وَ قِنَا عَذَابَالنّارِ. الهی عفو وکړې موږ لره او زموږ میندو او پلرو لره زموږ نیکه ګانو او انا ګانو لره او زموږ اولادو لره اوزموږ خویندو او ورڼولره زمو ټولو دوستانو او اشنا یانو لره او زموږ ټوله اقربا وو لره او ټولو مسلمانانو لره عفو وکړې ټولو هغه کسانو لره چه زموږ څه یی ددوعا غوښتنه کړې –وټولو ته په دنیا او اخرت کښی کامیابی یه بخښنه او رحمت ستا ور نصیب کړې الهی ته غفور یی ته رحیم یی .

وصلی اللهُ تعالی علی سیدِنا محمد علیهِ السلام وآلِہ واصحا بِہ وعَلَیْنَا مَعَهُمْ اَجْمَعِیْن بِرحْمَتِکَ یَا اَرْحَمُ الرَا حِمِیْن ، آمِیْن.

دیوولسم اودوولسم دورځو دکچنی او میانځوی شیطان تر ویشتلو وروسته دوعا:-

کله چه دی د اختر په دوهمه ورځ لمړي کچني شیطان (جمرة الصغرا ) په اوو ډبرو وویشت دهره طرفه ویشتل یی صحیح دی ولی مخ پر قبله افضله دئ نو بیا به را څنګ ته سې اودلویو پایو سره به دوعا وکړې بیابه نو ورسی دوهم میانځوي شیطان ( جمرة الوسطی ) ته مخ پرقبله به ورته ودریږې او په اووډبرو یی ووله پر هره ډبره ویل کیږی (بِسْمِ اللهِ اللهُ اکبر )

وروسته به داول شیطان پر ډول را څنګ ته شې او مخ پر قبله دلوی پایو سره بیا خپله دوعا وکړې وربه سې دریم یا لوشیطان ( جمرة الا کبر ) به په اوو ډبرو وولې تر لوی شیطان وروسته دوعا نسته. فکر کوه چه شیطان ته به پوچ کنځاوی نه کوې فقط وایی چه د ترټلو د شیطان دپاره او درضا دالله پاک ( بسم الله اللهُ اکبر )

دوعا :-

الهی پدغه منی شریفه کښی احسان وکړه پر موږهغه سی چه تا پر خپل استازی او نبی محمد علیهِ السلام آو پر خپل ټولو انبیا وُ علیهِمُ السلام او پر اولیا وو خپل او پر اهل دعبادت خپل کړیدئ – الهی تصدیق مو پر کتاب ستا اومتا بعت مو دسنتو دحبیب ستا محمد علیهِ السلام دئ – یا ربالعالمینه خلاص مو کړه ستا دعذابه یا رحمانه یا رحیمه- او ثنا دی وی همیشه هغه ذات لره چه وا حد دی او احد دئ – ثنادی وی همیشه هغه ذات لره چه بې نیازه دئ – ثنا دی وی همیشه هغه ذات لره چه نه دچا څه پیدا سوی او نه دده څه څوک پیدا سوی دی – ثنا دوی هغه ذات لره چه نسته هغه لره هیڅ سیال – الهی ثنا دی وی پر تا باندی هومره چه تا ویلې ده پر ځان خپل چه زموږ دحساب دتوا ن څه دباندی ده - الهی زموږ عاجزی قبوله کړه او داخل مو کړې په صالحو بنده ګانو کښی خپل – وصلی اللهِ تعالی علی خیر خلقهِ محمد علیهِ السلام وآلهِ واصحا بهِ وعلینا مَعَهُمْ اجمَعِینْ وسَلَمَ تَسْلِیْماً داءِماً یا رب العالمین بِرَحْمَتِکَ یا ارحمُ الراحمین.

دوعا د طواف الوداع (رخصتی ) : -

د طواف وروسته چه دی دوه رکعته واجب ادا کړه نو دا دوعا به خپله کړې: الهی دغه ستا بیته ده او تا هغی ته عزت او حرمت ورکړیدئ – ددغه بیتې په روی موږ ټوله که حجاج دی که عمره والا زایران دی که مسافرین که مقیمین په سمه یا په دښت کښی په وچه یا په بحر کښی ترخپلو کورو سلامت ورسوې او دټولو دغه تلاښ اوحج قبول او مبرور وګرځوې یا هغه ذاته چه بیرته رسوې مسافران خپلو کورونه ته موږ راولې په کرا تو او مکرر می راولې وزیارت ته ستا دبیتې تایب او عبا دت کونکی او خاص تا لره حمد ویونکی الهی سوال کوم دتا څه د او داوبه کامیابی په ورځ کښی دقیامت بخښنه او رحمت په ورځ کښی دعذاب ، اودرضا ستا په ورځ کښی دثواب او نو ر په تا ریکی کښی ستا دنبی محمد علیهِ السلام –الهی ماته قدرت پر ښو راکړې او دبدو څه می وساتې – او ملګرتیا کیدو په ورځ کی دمحشر دتندی دمسکینا نو او مظلومانو مینه می په زړه کښی را کړې –الهی ستا دبخښنې او رحمت هیله می را پوره کړې –الهی پر هغه قوم چه تا دفتنې اراده کړې وی ما دهغو دډلی څه وباسه –او ژوند می ختم کړې په رحمت سره ستا چه په فتنو خراب نسم –الهی ستا محبت می په نصیب کړې او محبت دهغه چا چه ستا محبت کوی او محبت دهغه اعمالو چه ستا ودوستی ته می نژدې کوی –یا ارحمُ الرّا حِمین الهی هیله کوم دتا څه چه زما په برخه هدایت او تقوا راکړې او پاکی او غِنا راکړې –الهی دهوااو نفس دفتنې څه می په امان کړې حتی یوان می د نفس او شیطان تر تسلط لاندی مه راوله الهی –دتا څه هیله کوم چه وګرځوې اخره دعمر زما خیر دعمرزما او خیر داعمالو زما اخر داعمالو زمااو خیر دورځو مالره ورځ دملا قات ستا یا ارحم الراحمین ، وصلی اللهُ تعا لی علی سیدِنا محمد وآلهِ واصحا بهِ وعلینا معهم اجمعین یا ربُ العا لمین.

لنډه یادونه:- حا جی صاحب اومحترمی حجانې تاسی ولیدل چه ټولی دوعا ګانی د خدای حضورته په عاجزی او دتوبې دقبول او دعفوی دپاره وې که دځا ن په مورد کښی وې که دبل چا دپاره وې –یعنی زموږ دټولو مقصد به داوی څه وخت چه ددې دنیا څه ځو باید دګناهونو څه پاک او مسلمان ولاړ شو –نو پر ځان دی فکر وی چه تر حج وروسته دګناهونو پیتی بیا در په غاړه نسی. په هر مقام کښی دحج او عمری دغه ذکر په تکرار وایه

**١:سُبْحَانَ اللهِ والحَمْدُ للهِ وَ لا اللهِ الا لَهُ وَاللهُ اَكْبَرْ .**

**٢ :– اَسْتَغْفِرُ اللهِ الَذىْ لا الهَ الا هُوَ الْحَىِ الْقَيّومُ وَ اَتُوْ بُ اِلَيْهِ .**

# «ځلرمه برخه په حج کښې د مهمو او ضروري افعالو لارښونې»

## سوال:- څرنګه و الله پاک ته توبه ایستل کیږي ؟

جواب:-حق تعالی په خپل کلام کښې داسې فرمایي

**( يَا يُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُو تُوْبُوْا اِلَى اللهِ تُوْبَةَ نَصوحَا () دسورت التحريم ٨آيات**

ژباړه:-اې هغه کسانو چه ایمان مو راوړیدئ توبه وباسی الله لره خالصه اودزړه توبه.

په دې آیات کښې حق تعالی خپلو بنده ګانو ته د توبې لارښونه کړیده یعنې ماته توبه وباسی چه زه مو توبه قبوله کړم او ومو بخښم ځوک چه دګنا هونو څه پاک وی دهغه ځای به حتماً جنت وی. ځکه نو هر موءمن په هر وخت کښې باید توبه دیاده ونه باسی خاصتاً په مقد سو ځا یونو او اوقاتو کښې ، هر کله چه پر یو نا وړه عمل خپل پښیمانی وکړې او توبه وباسی یعنې چه دوباره یې نه تکراره وې ، خدای دخپلو بند ګانو په زړو خبر دی–توبه که په اخلاص وی نو الله پاک هغه حتماً قبلوی خدای تعا لی توبه قبلونکی او رحیم دئ ، خصو صاًپه حج کښې او دعرفات په ورځ او شپه کښې دالله جلّ جلا لهُ درحمت دروازې دحاجیانو او صادقه تو به کونکو پر مخ خلا صی وی او خواست اوغوښتنه یې دالله پاک په لوی دربار کښې منظور او قبلیږی ،ځکه نو په دغه وخت او دغه مقام کښې پر خپلو نا وړه تیرو اعمالو پښیمانی اودزړه داخلاسه توبه کول(چه بیا به نه تکرا ریږی) او عفو غوښتل یو فوق العاده غنیمت دئ چه هر حاجی باید دهغه څه استفاده وکړی او د الله جلَ جلا لهُ سره تعهد وکړی چه بیا هغه نه تکراره وی نو دغه کسان دی چه به جنت ته ځی او نور(رڼا ) به په ورځ د حشر ددوی دمخه او پر اړ خونو ورسره روان وی ، او وایی به چه الهی دغه نور او بخښنه زموږ دپاره دایمی وګرځوه ، ولی که دچا څه توبه ما ته شوه اوبیا یې هغه عمل تکرار کړئ نو پدی دنیا کښې دانسا نانو په نزد د متکرر جنا یت کاره جزا څوچنده سخته وی نو دخدای په نزد هم دتوبه ماته ونکی جزا ډیره درنه ده ، الهی موږ ته توان راکړې چه پر خپلو توبو ثابت قدمه واوسو او الله جلَ جلا لهُ مودی دتوبه ماتونکو د ډلی څه په امان کړی او موږ دی صادقه توبه کونکی وګرځوی آمین.

## سوال :- توبه څو ډوله ده ؟

جواب:-توبه پر پنځه ډوله ده :-

١:- هغه حقوق چه دبنده او پاک الله تر منځ دی او قضایی لری لکه ترک دلمانځه–ترک دذکات یا روژه خوړل ددغو اعمالو توبه داسې ده: - څه چه در باندی وی تر وسه وسه به یې قضایی راوړې او دخدا ی جلَ جلا لهُ سره به وعده کوی چه بیا یې نه قضا کوې او دری واره به استغفار وایی:

**(استغفرُ اللهِ الذی لا اللهَ الا هُوَالْحَیُّ القَیُّو مُ واتوبوالیهِ)**

۲:-دهغه اعمالو څه توبه چه د خدای د اوا مر و څه دی مخالفت کړی وی لکه زنا- شراب-قمار- په دروغو قسم خوړل یا داسی درواغ ویل چه دخلګو تر منځ دفتنې باعث شوی وی–پر داسی اعمالو به پښیمانی کوې او دالله سره به وعده کوې چه بیا یه نه تکراره وې اودرې واره به استغفر وایی چه لوړ ذکرشو.

۳:- تو به د هغه مظالمو څه چه دیوه بنده اوبل بنده تر منځ دحق تلفی وی مثلاً غلا-رشوت–او یا په ظلم سره دچا حق لاندی شوی وی–یادی په معامله کښی په ټګی او درواغو دبل حق خوړلی وی یا د امانت مال یادیتیم مال بیله شرعی اجازې څه دځان په ګټه استعمال کړی وی، که دهغه اندازه درمعلومه وه هغومره به بیرته مسترده وې او عفو او حق پلیت به دهغه څه غواړې ، داعمل دشیطان په تلاښ ډیرمشکل ښکاری ولی باور وکړه کله چه داسی وکړې الله جلّ جلا لهُ دهغه څو چنده عوض در کوی او ارواح به دی دومره په خوښ سی چه ته به په هغه ډیر ویاړې ، او د خدای پاک سره به تعهد کوې چه بیا یی نه تکراره وې او دری واره به استغفار ووایی.

۴:- توبه دهغه مظالمو څه چه خاوند یی نه پیژنې یا مړ وی او وارث یی هم نه پیژنې مثلاً دچا دباغه یا دچا دکوره دی څه په ظلم وړی وی که په غلا وی که په زوره نو هغه اندازه به دهغه سړی په غیاب کښی خیرات کړې او د الله پاک څه به عفو وغواړی چه دا عمل به بیا نه تکراره وې او اسغفار به دری واره ووایی.

۵:- توبه دهغه مظالمو څه لکه دچا غیبت–یاچاته سپکاوی او ښکنځل–یا یو مظلوم نا حقه وهل که ژوندی وی حق پلیت په ځنی غواړې او که مړ وی دخدایه به دهغه په حق کښی بخښنه ورته غواړې وایی به الهمّ اغْفِرْهُ (خدایه دی وبخښې) چه حق تعا لی هغه ستا څه راضی کړی او دخدای سره به وعده کوې چه بیا دا عمل نه تکراره وې او درې واره به استغفار وایی.

توبه هر وخت اوپه هر ځای کښی چه په صحیح توبه سره وی قبلیږی نه دا چه محض په خوله ووایی زما توبه ده او دزړه توبه نه وی ،ولی دعرفات په ورځ به دټولو تیرو ناوړه اعمالو څه بخښنه غواړې او توبه به کوې.چه هلته ترنورو ځایو او وختو افضله او مورد قبول واقع کیږی .که څه هم توبه دګناهونو څه دخلا صون یوازنۍ لاره ده نو ای موٌمنه هروقت اوپه هر ځای کښی توبه دیاده مه باسه دالله جلّ جلا لهُ حبیب محمد علیهِ السلام ویلی چه زه هره ورځ تر اویا ۷۰ واره ډیر استغفار وایم اوالله پاک ته توبه باسم نو هغه والا مقامه نبی دخدای چه دهر ډول ګناهونو منزه وو دومره استغفار وایه او توبه یی کول نو پر امتیانو یی چه دهر یوه پر شا دګناهونو پیټی دی باید هر ګړې اوهره لحظه توبه دیاده ونه باسی ولی چه مرګ په باور ندی او چا ته دمخه خبر نه ورکوی نو دمخه تر هغه چه د مرګ وخت راورسیږی باید توبه مو کړې وی او دخدای په حضور کښی مو پښیمانی اظهار کړې وی هر ورځ دسهار تر لمر ختو مخه اودما ښام تر لمر لویدو وروسته دتوبې دقبلیدو وخت دئ هره ورځ استغفار ویل او توبه استل ډیر لازمی کاردی موږ باید ډیر متوجه واوسو چه تر توبې کښلو وروسته خصوصاً تر حج وروسته چه سړی دټولو ګناهونو نه توبه ایستلی وی او پاک موٌمن ګرځیدلی وی نو شیطان ډیرتلاښ کوی چه مو بیا په ګناهونو ولړی او دالله پاک سره مووعده خلافه کړی او دالله جلّ جلا لهُ دقهر اوغضب مستحق مو وګرځوی ، نو ځکه زموږ پر اعصاب او امّاره نفس باندی په شدت کار کوی چه دد دوږخ مستحق مو وګرځوی او ددخدای پاک درحمت څه بی برخی کړی.

دنفس په هکله لنډ ه څرګنده ونه:- نفس اماره دانسان امر کونکی نفس دی چه همیشه انسان دغرور او تکبر اوګناهونو پر لور ټیل وهی او شیطان دهغه په فعال ساتلو کښی ډیر تلاښ کوی

اوبل نفس لوّامه دی چه موږ هغه وجدان نو مولی دی دانفس همیشه موږ تر سوال لاندی را ولی چه ولی دی دا نا وړه کار وکړ باید توبه وباسی داډول نفس دالله په صالحو بنده ګانو کښی قوت لری او فعاله وی او شیطان کوښښ کوی چه دغه نفس ویده او غیر فعاله وساتی

اوبل نفس مطمٸنه دی چه دانفس داولیاو الله اونبیانو علیهِمُ السلام نفسونه دی چه شیطان هغه ته لار نلری او د هغه نه تښتی. الله جلّ جلا لهٗ مودی دشیطان او نفس امّاره دتسلط نه په امان کړی آمین.

## سوال :– په حج کښې مختلف نیتونه څرنګه دی ؟

جواب:- هر ښه عمل اراده او نیت غواړی هر نیت باید دزړه څه وی نو ددې دپاره چه نیت دی دزړه وی باید په خپله مورنۍ ژبه یی ووایی چه دزړه سره دی لار ولری او ځنی خلګ چه په عربی ژبه کښې پوره پوهه ولری نو په عربی ژبه دی وکړی.

داحرام نیت:فقط وایی (احرام می تړلی دپاره دواجب عمرې ) الهی راته اسانه یی کړې او را څه قبوله یی کړې ، دا ډول نیت په حج تمتع کښې کیږی ، او دنفلی عمرې دپاره به ووایی ( احرام می تړلی دنفلی عمری ) الهی راته اسانه یی کړې او راڅه قبوله یی کړې ، که د ځان دپاره وی اوکه دبل چا دپاره وی نو دهغونومونه به اخلې مثلاً ( احرام می تړلی دنفلی عمری ) الهی راته اسانه یی کړې او را څه قبوله یی کړې ، الهی ثواب یی زما ومور او پلار ته زما نیکه ګانو او انا ګانو ته او محمد علیهِ السلام او ټولو رسولانو او انبیا علیهِمُ السلام ته سره دټولو مسلما نا نو وررورسوې.دا ډول عمره کول دومره ثواب لری چه حق تعالی یی وداټولوته جلا جلا دعمری ثواب ورکوی او ستا دپاره هم د ټولو په اندازه یوا زی ثواب درکول کیږی. اوکه یی دیوه یا دوو اشخاصو په نامه وکړی هم یی وهغوته اوهم تاته په هغه اندازه ثواب درسیږی ، او د واجبی عمرې او نفلی عمرې اعمال یو ډول دی یعنی تر طواف وروسته دوه رکعته واجب دطواف دمقام ابراهیم علیهِ السلام وشاته ادا کړې وروسته سعیه دصفا او مروا اوبیا به سر وخریی چه حلال سې که نه نو هغسی محرم پا ته کیږې ،

په تمتع حج کښې چه احرام تړې وایی چه(احرام می تړلی د دفرضی حج داسلام)الهی راته اسانه یی کړې او راڅه قبول یی کړې ، همدانیت په حج افراد یا حج مفرد کښې هم صحیح دئ ولی که دبل دپاره دی حج کاوه دهغه اسم به معلوم کړی مثلاً ( احرام می تړلی دفرضی حج داسلام دپار ه دفلانی ) الهی راته اسانه یی کړې او راڅه قبول یی کړی.تر نیت وروسته تلبیه ویل کیږی او بیا دوه رکعته سنت.

اوپه حج قران کښې به ووایی چه( احرام می تړلی دفرضی حج او عمری ) الهی راته اسانه یی کړې او را څه قبول یی کړې پدی نیت کښې چه دی عمره وکړه سر به نه خریی اوهمداسی محرم به پا ته شې ترڅو چه د حج مناسک دی هم ادا کړه نوبه سر وخریی او احرام به خلاص کړې او دې قبول کړی. دطواف فرضی او سعیی وروسته نو پوره حلال شوې خدای

شرطی نیت: - که څوک د ویزې یا کم بل مشکل په علت مطمٸن نه وو چه حج به تر اخره پوره کړی یا نه نو به هغه وخت چه پر میقات احرا م تړی داسی نیت به کوی (احرام می تړلی دفرضی حج که پر هر ځای بند شوم او نور می حج ته دوام نشوا ی ورکولای هغه ځای به زما دحلا لی وی ) نو پر هر ځای چه بند سوې هغه ځای ستا دحلا لی دی احرام خلاص کړه نور حلا ل یی ځکه چه اول دی دا شرط ایښی وو .

دطواف نیت:- دحجر اسود پر برا بری به ودریږی او مخ دحجر اسود وخواته اول به ووایی (اراده لرم داوه شوطه(دورو ) طواف فرضی دحج پر دغه کعبه شریفه ) الهی راته اسانه یی کړې او راڅه قبول یی کړی ، که نژدی وې نوبه د حجر اسود استلام وکړې یعنی لاس به پر تیر کړې اومچ به یی کړې او وبه وایی بِسْمِ اللهِ اللّهُ اکبر نو طواف به شروع کړې. او که دحجر اسود څه لری وې نو به اورغوی دهغه وخواته ونیسې لکه چه دی لمس کړی نو تر بسم الله اللّهُ اکبر وروسته به لاس مچ کړې او طواف به شروع کړې.

او که دواجب عمرې طواف وو نوبه ووایی ( اراده لرم د اوه شوطه طواف واجب دعمرې پر دغه کعبه شریفه ) الهی راته اسانه یی کړی او راڅه قول یی کړی.

د سنت طواف القدوم د پاره به ووایی (اراده لرم داوه شوطه طواف سنت د قدوم پر دغه کعبه شریفه ) خدایه راته اسانه یی کړې او راڅه قبول یی کړې.

او که نفلی طواف وی وبه وایی (اراده لرم داوه شوطه طواف نفلی پر دغه کعبه شریفه ) خدایه راته اسانه یی کړې او راڅه قبول یی کړې ، په نفلی طواف پسی دصفا او مروا سعیه نشته فقط دوه رکعته واجب به ادا کړې .هر شوط دطواف دحجر اسود دخط څه شروع کیږی او پر هغه ختمیږی. فهم دی ونیسه چه شروع دطواف دحجر اسود برابرئ څه یا یو څو انچه دهغه څه دمخه شروع کړې او که تر خط راتیر وې نو هغه یو شوط دی ندی حساب هغه به پوره کړې په اخره کښې.

دصفا او مروا دسعیی (تګ او راتګ) نیت:- ( خدایه اراده لرم داوو سعیو دصفا او مروا ) الهی راته اسانه یی کړې اوراڅه قبوله یی کړې سعیی پخبله دطواف تابع ده یعنی که دحج فرضی طواف وروسته وی هغه پخپله فرضی کیږی او که دواجب عمرې سعیه وه هغه واجب ده اوکه دنفلی عمرې وه هغه هم نفلی کیږی نوځکه ویل یی په نیت کښې لازم ندی.

په حرم شریف کښې که دی دلمانځه نیت تاړه وایی به چه مخ می دئ ودغه کعبې شریفی ته یعنی د(دغه) کلمه لازمه ده او خاص خدایه تالره یی اداکوم ،اوهم نیت دزړه معتبر تره دی تر ژبې ویل با ید نیت په زړه کښې وکړې او که پر ژبه هم تکرار سی ډیربه خفیه وی چه بل څوک یی نه اوری باک نلری.

سوال:-په حرم شریف کښې افضل کارونه کم دی؟

جواب:- په دی عقیده او باور به یی چه دالله پاک میلمه یی الله پاک پخپله ته وخپل کور ته دعوت کړی یی نو دلته چه هره روا غوښتنه وکړې الله پاک یی قبلوی ، هر عبادت دی یو په سل زره چنده (۱۰۰۰۰۰) اجر لری او که په جماعت لمونځ په حرم شریف کښې دننه وکړې دغه عد د په ۲۷ کښې نور ضر بیږی یعنی ۲۷ لکه واره تر عادی لمونځ ډیر ثواب در په برخه کیږی ، نو دا موقع خو دنیک بخته انسا نانو په برخه کیږی داغنیمته موقع به دلاسه نه ورکوې او دهری دقیقې څه به اعظمی استفا ده کوې.

۱:- عمرې راوړل دمخه تر حج او وروسته تر حج ، دحج په پنځو ورځو کښې یعنی دلوی اختر دمیاشتی دنهمی یعنی عرفات ورځ بیا داختر تر څرمی پوری که عمره ونه کړې ښه به وی اودحج پر نورو وظایفو لازم دقت وکړې غوره کاردئ ولی که عمره هم وکړی عمره دی قبلیږی ولی ډیر غوره وخت دعمری دپاره دغه وخت ندی تردغه ورځو څه دباندی یی وکړه

ولی چه د هری عمری د پا ره به جلا احرام نیت کوې هغه هم دمیقات څه او طواف او سعیه او دسرخریل غواړی چه دعمرې داحرامه خلاص شې .نو که دحج په ورځو کښې وی دحج دمناسکو سره مشکله کیږی نو پدی علت دعمرې کول پد غه پنځه ورځی کښې ضرور ندی.

۲ :- نفلی طوافونه ، دوه طوافه دیوې عمرې ثواب لرې.او دوې عمرې دیوه حج ثواب لری او دروژی دمیاشتی یوه عمره دحج ثواب لری.

۳:- قضایی لمونځونه را ګرځول څو نه چه دی وس وی ولې دهر فرضی لمانځه سره یو دهغه وخت قضایی ډیر غوره کاردئ.

۴ :-که قضایی لمونځونه در باندی نه وه نو نفلی لمونځونه ، په نفلی لمونځونو کښې ترټولو

لوړ صلوات التسبیح دئ ، صلوات التسبیح داسی ادا کیږی:-

څلور رکعته لمونځ دصلوات التسبیح به نیت کړې ، په اول رکعت کښې تر الحمدُ لله او سورت تر ویلو وروسته پنځلس(۱۵) واره به داتسبیح ووایی (سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلهِ وَ لاَ اِلهَ

اِلا اللهُ وَ اَللهُ اَكْبَرْ) محترمه لوستونکې ددې وروسته دغه تسبیح دتسبیح په نامه یادوم.چه دا تسبیح دی ۱۵ واره وویل نو به اللهُ اکبر وو ایی اورکوع ته به ولاړسی په رکوع کښی چه دی درې واره سبحان ربی العظیم وو ایه نوبه ۱۰ لس واره هغه تسبیح بیا وو ایی وروسته به درکوع څه ودریږي کله چه دی ربّنَا لک اَلحَمْد وو ایه نوبه بیا هغه تسبیح لس واره چه لاسونه دی ایله وی وو ایی ، وروسته به اللهُ اکبر او سجدې ته به لاړشي په سجده کښی دسجدې تر تسبیحاتو وروسته به بیا ۱۰ لس واره هغه تسبیح وو ایی او اللهُ اکبر داولی سجدې څه به کښینې په ناستی به بیا ۱۰ لس واره هغه تسبیح وو ایی نوبه اللهُ اکبر او دوهمی سجدې ته به لاړشي او دسجدې تر تسبیحاتو وروسته به په دوهمه سجده کښی داو لی سجدې په شان ۱۰ لس واره هغه تسبیح وو ایی بیا اللهُ اکبر او ددوهمی سجدی څه به کښینې او بیا به ۱۰ لس واره هغه تسبیح وو ایی نو بیله دی چه اللهُ اکبر وو ایی ولاړ سه او دوهم رکعت شروع وکړه په نورو درو رکعتو کښی په عین ډول دغه تسبیح ویل کیږی چه په هر رکعت کښی ۷۵ واره دغه تسبیح ویل کیږی ، په اوله او دوهمه ناسته کښی دغه تسبیح ۱۰ لس واره دالتحیاتُ دمخه ویل کیږی او لمونځ به ترپایه ختم کړې ددی لمانځه ثواب دومره دئ چه که څوک دمور یا پلار عاق وی او هغه مړه وی نو دی دا موقع نلری چه هغوی دځانه راضی کړی ،نو دی دغه لمونځ وکړی او ثواب دی هغوی ته وبخښی حق تعلی به هغوی ته دومره اجر ورکړی چه دخپل عاق شوی اولاد څه به راضی شی او هغه به ددغه عذابه خلاص شی ، نو ته وګوره که دا ثواب یو لک چنده هره پلا ستا نصیب کیږی څونه به وی او که دا لمونځ هره ورځ تر څو چه په حرم شریف کښی میلمه یی وکړی

ځولی. به ډکه یوسې نیک بخته حاجی.

۵:- دقرآن مجید تلاوت ،او دالله پاک اسماء او ذکر.

۶:- که نور څه دی په وس نوی په ولاړی وکعبی شریفی ته په عشق کتل چه هر وار کتل یی د۷۰ اویاوو کالو ګو ناه رژوی.

۷:- دځان او ټولو دوستانو او ټولو مسلمانانو دپاره عفو او مغفرت غوښتل ، محترمه چه زه دی دیاده ونوزم ماته به په حرم شریف کښی او پرعرفات دوعا کوې چه خدای می وبخښی.

## سوا ل :- دحج دورځو وظایف په خلص ډول څرنګه دی

جواب:-

۱:- د لوی اختر داوومی وظیفه:-

د لوی اختر د میاشتی داومی ورځی وظیفه:- که حاجی دمخه په احرام کښی نه وو مثلاً قارن حاجی چه ترعمرې وروسته هم داسی محرم پاته وی ، حاجی متمتع او حاجی افراد (حاجی مفرد ) حاجی متمتع که تر عمری وروسته دحرم شریف څه نه وو بل ښارته تللی نو به دخپل استوګنځی نه احرا م وتړی البته اول به سنت غسل وکړی بیا به احرام وتړی او که غسل کول مشکل وو نو به اودس تازه کړی بیابه احرام وتړی او وحرم شریف ته راشی هلته به دوه رکعته سنت داحرام ادا کړی بیا به نیت وکړی داحرام دحج او تلبیه به وو ایی نو حاجی محرم شو وروسته طواف قدوم چه سنت دی وکړې او دوه رکعته واجب دطواف به وکړې او سعیه دصفا او مروا لا زمه نده که دی سعیه وکړه نو داخری سعیی چه فرضی سعیه ده ترطواف فرضی وروسته دهغه سعیی پر ځای هم دغه سعیه دریږی ولی نیت دسعیی به نیت دسعیی دحج فرضی وی ، افضله داده چه فرضی سعیه پر خپل ځای یعنی تر طوا ف فرضی وروسته وشی ، او که حاجی متمتع تر واجبی عمرې وروسته کم بل ښارته یا مدینې منوری ته یا طا یٔف ته یا بل کم ښارته تللی وو نو داوم په ورځ به تر سنت غسل یا اودس تر تازه کولو وروسته دمیقات څه احرام وتړی دوه

رکعته سنت به وکړی او تلبیه به ووایې درې واره تلبیه سنت ده که نه نو یو وار هم صحیح ده داحرام دپاره تلبیه ضرور ده که نه نو احرام نه دی صحیح ولې که دچا تلبیه نوه زده نو بل هر ذکر چه ووایی احرا م صحیح کیږی ، او حاجی متمتع که وکولای سی چه طواف القدوم ادا کړی افضله ده ولی چه دا یو سنت دی که نه نو دحرم شریف له لاری به منا شریفی ته دا خلیږی.

داتم دورځی وظایف:-

پسله دلمر را ختو به ځا ن ومنی شریفی ته ورسوې چه دما پښین لمونځ دی په منی شریفه کښی باید ادا کړې نو به د عرفات تر وخته پنځه لمونځونه په منی شریفه کښی پوره سی چه دا هم سنت دی. او که داتم دورځی دلمرختو دمخه ومنی شریفی ته د ملگرو سره داخل سې څه پروا نلری. داتم دورځی ماښام چه سبا دعرفات ورځ ده دغه شپه په منی کښی تیرول سنت دئ.

دنهمی داختر د میاشتی وظیفه:-

دغه ورځ ډیره مهمه ورځ ده چه دعرفات ورځ ده ، پسله لمر ختو به دعرفات پر لوری حرکت وکړې دزوال دمخه به وخپل مقر ته په عرفات کښی ځان ورسوې ، که ممکن وو تر زوال دمخه به غسل وکړې او دغرمې ډوډۍ به هم تر زوال دمخه وخورې سنت کار دی ولی چه تر زوال وروسته وخت ډیر قیمتی وخت دی باید ټوله تر لمر لویدو پوری په ذکر او دوعا تیر سی نه په خورک او بل بی هوده مجلس او سرگرمیو ، تر زوال وروسته چه دعرفات فرضی وخت شروع سو نو به اول دماپښین لمونځ او مازدیگر لمونځونه په یوه ازان او دوو اقامتو دملگرو سره ادا کړی. او یا هر لمونځ پر خپل وخت په جماعت دملگروسره ادا کړه.دما پښین تر لمانځه وروسته په ذکر او تلا وت شروع کړې مخکی پدې مورد کښی معلومات درکړه شویدی ، دعرفات په ورځ به څه دوعاوی چه دی په وس وی دځا ن دپاره اونور ټولو اقرباوو لره او اشنایانو لره او ټولو مسلمانا نو لره ، او چه زه محتاجه ددوعا دی هیر نسم محترمه ماته دعرفا پر میدا ن دخدا یه بخښنه او رحمت وغواړه ، دعرفات وخت ټوله ۱۸ ساعته دی د نهم د زوال نه شروع بیا دسبا تر سپیدو پوری دئ که حاجی پدغه زمان کښی ځان دعرفات و ساحې ته ونه رسوی نو حج یی نه صحیح کیږی بیا به بل کال قضایی راگرځوی ، او په دغه موده کښی که حاجی په هر حال کښی وی مثلاً ویښ ، ویده ، بیخوده یعنی په کوما کښی پروت ناست یا ولاړ په هر حالت کښی ولو یوه دقیقه هم وی حاضر شی حج یی صحیح دی.که څوک په او داسه وی یا بی اودسه حتی که ښځه دناپاکۍ په حالت کښی وه حاضریدل په عرفات کښی ضروری دی صحیح کیږی.

دلسم دورځی وظایف:-

چه د لوی اختر ورځ ده ، دلمر ختو وروسته چه منی شریفی ته ورسیدې اول به لوی شیطا په اوو ډبرو وولې په اوله داختر همدا لوی شیطان بوازی ویشتل کیږی په هر صورت ځان به دټیلی اوټمبې څه لری ساتې که ډیر گڼه گونه وه نو وی ځنډه وه یو فارغه فرصت ته څکه دلوی شیطان ویشتل ۲۳ ساعته وخت لری یعنی داختر داولی دلمر ختو څه بیا دسبا تر سپیدو پوری دی دلوی شیطان یا جمرهٔ عقبه دویشتلو د پاره وکیل درول بیله شرعی عذرڅه نه ښځی ته اونه نر ته روادی ،تر هغه وروسته به دشکریی پسه حلال کړې فکر دی ونیسه (دشکریی پسه باید یو کلن یا ډیر وی او غویی باید دوه کلن یا ډیر وی اوښ باید پنځه کلن یا ډیر وی ، دا حیوانان باید سالم او بی عیبه وی نه گوډ نه لم پرې نه غوږپرې او غوږ چاکی دنظر حیوان او پسه باید بوچ او لنډ غوږی نه وی که تور خولی وی افضله دئ دحلا لیدو پر وخت به نیت دشکریی پر کوې نه داختری پسه او اوزکړی یا میږ او وزه څه فرق نه لری ټوله صحیح دی. دشکریی دپسه دپاره څو شرطه دی ، لمړی ، حتماً به دحرم په مځکه کښی حلا لوی ،دوهم داامام ابو حنیفه رحمت اللهِ علیهِ په مذهب غوښه یی په خپله هم وخوره او مسکینانو ته یی هم ورکړه دریم نیت یی دشکریی په نامه باید وشی. ولی د دم پسه به نه ته خوری اونه به یی غنی سړی خوری ټوله غوښه یی باید مسکینان وخوری ، حتماً باید په حرم شریف کښی حلال شی ، دحلا لیدو نیت باید دلازم شوی دم په نیت باید وی ،که چا دشکریی دحلا لیدو توان نه درلود نو به لس روژې ونیسی درې روژې به په حرم شریف کښی دمخه تر عرفا ت دورځی او اووه روژې به په خپل کور کښی بیا ونیسی ،

د پسه تر حلا لیدو وروسته به سر وخریی ټوله سر یا یوه څلرمه د سر حتمی ده خریل یی افضله کاردی البته دنارینه دپاره او غچی کول دښځی دپاره اونارینه هم خپل وریښتان غچی کولای شی په اندازه د ګوتی دبند یا ډیر تر هغه او ماشین کولای یی هم شي. فکر دی ونیسه چه داختر داولی دوظا یفو تر تیب واجب دئ که عمداً بیله عذره دغه ترتیب غلط شی پسه (دم) لازمیږی نو د سر تر خریلو وروسته شرطی حلال شوی او احرام به خلاص کړي او کالی اغوستلای شي ولی پوره حلا لی د فرضی طواف او سعیی وروسته ده.تر هغه وخته چه دی فرضی طواف او سعیی نه وی کړي دخپلی ښځی سره شهوانی نز دیکت نه شي کولای ،او دغه وظایف د فرضی طواف او سعیی په شمول ټوله باید داختر داولی ورځی دسهار دلمر ختو څه بیا داختر ددریمی ورځی تر لمر لویدو پوری چه ټوله وخت یی ۶۰ ساعته کیږی دئ تردغه وخت باید ونه ځنډول شی که وځنډیږی نو دم یا پسه د تأ خیر لا زمیږی ، یوازی ښځی دنا پاکۍ دعذر په نسبت فقط فرضی طواف او سعیه ځنډه ولای شی.

او فرضی طواف که دی داولی ورځی دپسه او دسر تر خریلو دمخه دګنه ګونی له ویری کاوه روادی ولی دومره فرق لری چه تر شرطی حلا لۍ د مخه یی کوی باید په احرام کښی وشی او دطواف په وخت کښی به راسته اوږه لڅه کړی او طواف به وکړی او دسعیی په وخت کښی به دواړی اوږې پټی وی او هم دلمانځه په وخت کښی باید اوږې پټی وی ، ولی که دی فرضی طواف داختر داولی تر وظایفو وروسته کاوه چه سردی وخرایه نو به ښه نوی یا پاک کالی وا غوندې او غسل به وکړې ښه عطر به هم ووهی نو به راسی وکعبی شریفی ته دطواف فرضی دپاره.

دیوولسم دورځی وظایف:-

داختر دوهمه ورځ ده ویشتل دشیطا نانو تر زوال وروسته شروع کیږی بیا دسبا تر سپیدو یه وخت دئ چه ټوله ۱۸ ساعته کیږی په ترتیب سره به اول دکچنی شیطان څه شروع وکړې –بیا میانځوی شیطان او په اخر کښی به لوی شیطان وولې - ددوعا او څرنګه والی په هکله دمخه ددوعا ګانو په لړکښی پوره معلومات ارایه شویدی دلته تکرار اضافی دئ.

ددوولسم دورځی وظیفه:-

چه داختر دریمه ورځ ده ټوله وظیفه یی دیولسم دوظایفو په شان ده نو چه شیطانان دی وویشتل نو به را رهی سې دمکې شریفی وخواته– ولی فکر دی وی که دسبا تر سپیدو پوری دمینا شریفی څه نه وی وتلي او هلته سپیدې دربا ندی وچاودلې نو دڅلرم دورځی دشیطانانو ویشتل هم دربا ندی واجب شول دیوولسم او دوولسم دورځو په شان به دری واړه شیطانان وولې بیا به نو دمکې شریفی ولورته حرکت وکړې –که کم مشکل نه وی چه په خپله دڅلرم ورځی د وظیفی دپاره پاته سې ښه کار دئ.

تر دغه وروسته نو یو طواف الوداع پاته دئ هغه به هم وکړې چه دورکعته واجب دطوا ف الوداع دی وکړه نو دحج وظایف دی ټوله خلاص کړه درخصتیۍ طواف سعیه نلری. خدای دی حج قبول او مبرور وګرځوه آمین.

د فقهی ځنی باریکو مسٌلو ته یوه لنډه کتنه:-

۱:- که دی داختر په پنځو ورځو کښی یعنی دعرفا د ورځی څه نیولې بیا داختر تر څلرمی تر لمر لویدو پوری عمره وکړه عمره دی صحیح کیږی ولی غوره کار ندئ.

۲:-دنارینه دپاره په احرام کښی داسی چپلکی په پښو کول ضروردی چه دپښو دمخ هډوکی پټ نکړ ی که عمداً تر ۱۲ ساعته ډیر بوټ په پښو کړی دم لازمیږی ولی که سهواً یی په پښو کړی هغه وخت چه متوجه شو فوراً یی ایسته کړی جنا یت نه بلل کیږی

۳:- دحجر اسود مچول که ګڼه ګونه نوی سنت کار دئ ، ولی که پر حجر اسود عطر پا شل شوی وه او ته په احرام کښی وې او هغه دی مچ کړ نو که دی پوره عضو مثلاً ټوله لاس یا پوره شنډان په عطرو شول نو دم لازمیږی.

۴ :-هر څوک که دعمرې دپاره وی او که دحج دپاره وی خپل سر په خپله خریلای یا خپل وریښتان پخپله غڅی (بیاتی ) کولای شې اوهم په احرام کښی دبل حاجی یا عمره والا سر خریلای شې هیڅ محدودیت نشته دعوامو او بی خبره خلګو په خبرو مه ختا وزه.

۵ :- په مستوره غسل خانه یا تشناب کښی دغسل دپاره که سنت وی که فرضی غسل احرام ایسته کول روا دی ، دومره باید متوجه اوسې چه صابون به نه استعما له وې او دځا ن خیری به په منبلو نه ایسته کوې فقط ځان وینځه او خپل احرام بیرته په ځان کړه.

۶ :- که احرام چټل شی نو الیشه ول یا پریولل یې لازمی کاردی.

۷ :- دیخ په وخت کښی دوه احرامه په ځان کول څه باک نلری روا کاردئ.

۸ :-ښځه باید په هیڅ صورت ازدحام او ګڼه ګونی ځای ته ور داخله نشی که نه نو هم پخپله او هم یې محرم مسٌول دي.

۹ :- دهری ښځی دپاره په سفر کښی دحج محرم لازم دی: که بی محرمه وی حج یې کیږی مګر فاسقه کیږی چه ددی عمل څه باید ځا ن وساتی.

۱۰ :-په طواف ګا ه کښی دفرضی لمانځه دجماعت په وخت کښی په هغه طرف کښی چه ملا امام ولاړ وی تر امام به وکعبې شریفی ته نژدې نه دریږې ولی په نورو درو طرفو کښی څه محدودیت نسته.

۱۱ :- په طواف کښی دطواف دوعا او نوری دوعا ګانی په خپله مورنۍ ژبه افضله دی..

۱۲ :-که فرضی طواف په جنا بت کښی وشی یا یه ښځه په ناپاکی کښی وکړی نو اوه پسونه یا غویی یا اوښ پر اوړی اوکه واجب طواف په داسی حالت کښی وشی نو یو پسه به ددم حلا لوی ، ولی که فرضی طواف بیرته د اختر په ورځو کښی را وګرځول شی او واجب طواف دسر تر خریلو دمخه راوګرځوی نو ددم څه خلا صیږی ، اوکه سنت طواف په هغه سی حالت کښی وشی نو څه شی نه لازمیږی ولی طواف نا حسابه دی بل به دسره په پاک حالت کښی طواف کوی ، ولی دجنابت یا دښځود ناپاکۍ په حال کښی وحرم شریف ته داخلیدل منع دی څه چه بیا پدی حال کښی طواف هم وسی دا کار باید موٌمن مسلمان ونه کړی ،اوکه فرضی یا واجب دعمرې طواف په بی اودسی کښی وشی نو یو پسه لازمیږی ولی که بیرته فرضی طواف داختر په ورځو کښی یا واجب دعمرې طواف دسر خریلو د مخه په اوداسه را وګرځول شی نو ددم څه خلا صیږی ولی که فرضی طواف داختر دڅلرمی وروسته یادعمرې واجب طواف دسر تر خریلو وروسته را وګرځول شی نو پسه دتآ خیر لازمیږی.

۱۳ :- دسهار تر لمانځه وروسته بیا تر لمر ختو پوری طوافونه جوړه کولای شی هغه دوه دوه رکعته واجب به تر لمرختووروسته دهر طواف دپار ه جلا جلا ادا کړې.اوهم دمازدیګر تر لمانځه وروسته بیا د ماښام ترلمانځه پوری طوافونه جوړه کولای شې او واجب دوه رکعته دهر طواف جلا جلا دماښام تر سنتو دمخه اداکړه بیا به دماښام دوه رکعته سنت وکړې ، او نور وختونه طوافونه نسې جوړه کولای د هر طواف متصل به دوه رکعته واجب وی بیا نو بل طواف کولای شې.

۱۴ :- هرطواف ولو نفلی طواف وی چه شروع شو نو دواجب صیغه پیدا کوی نو طواف وسنت لمانځه ته نه قطع کیږی مثلا دسهار تر اذان وروسته به طواف نه قطع کوې چه طواف دی پوره کړی بیا به اول د طواف دوه رکعته واجب وکړې وروسته به دسهار سنت ادا کړې ،دومره باید پیاد ولرې چه طواف یوازی فرضی او فرض کفایی دپاره قطع کیدای شی ، غیر له هغه که قطع شی ټوله طواف به دسره قضایی کوې.

۱۵ :- درخصتۍ طواف یوازی دفرضی طواف وروسته وا جبیږی دعمری وروسته درخصتۍ طواف نسته او همدا سی که ښځه ناپاکه شوه او ملګری یې دکور وخواته روانیده نو ودې ته درخصتۍ طواف معاف دئ.

۱۶:- که دچا تلبیه نه وه زده یا یی نه زده کیدل که با سواده وو ودې لیکی دضرورت پر وخت دی ولولی اوکه نه نوهر ذکر چه یی زده وی دتلبیی پر ځای دې تر احرام تړلو وروسته ووا یی احرام یی صحیح کیږی مثلاً سبحان الله – اللهُ اکبر الله اکبر – الحمدُ لله – قل هو الله دی ووایی صحیح ده ولی که څوک تلبیه ذده کړی ثواب یی تر ټولو اذ کارو ډیر دئ ولی دا هغه کلمه ده چه زموږ پیشوا محمد علیهِ السلام اوله خبره دحق تعالی په حضورکښی په ورځ دحشر همدا دلبیک کلمه ده.

۱۷:-حق تعالی پر موٌمنانو درې لوی فضلونه کړیدی که څه هم دخدای فضلونه پر بنده ګانو بیخی ډیر دی ولی دا دری فضله یوازی دموٌمنانو دپاره دی.

۱:- مشرف کیدل په اسلام او ایمان تر ټولو لوی فضل دی.

۲:- وحج ته را وستل دالله پاک ډیر لوی فضل دی د موٌمن په حق کښی

۳:- او وجنت ته داخلول دبنده دا دری ډیر لوی فضلونه دی.

خدای تعالی جلّ جلا لهُ مو دی دادری واړه فضلونه خپل په نصیب کړی آمین یا ربُّ العا لمین

سوال:- د مدینی شریفی زیارت کول ترحج دمخه یا وروسته څرنګه دئ.

جواب:- دمځکی پر مخ تر مکې شریفی تر ښار وروسته دوهم متبرک ترین ښار دی نو هر موٌمن مسلمان چه په ژوند کښی یو وا رهم دهغه دزیارت موقع ومومی هغه نو دخدای دفضل کړه شوو څه دئ.په یو حدیث شریف کښی: دانس رحمت الله علیه څه روایت دئ:قال قال رسول الله علیهِ السلام (من صلی فی مسجد ی هذا اربعین صلوةٍ ولا تفو تهُ صلوةٌ کُتِبَ لهُ براءةً مِنَ النّارِ وَبرَاءةً مِنَ العَذَابِ وبرَاءةً مِنَ النفا ق) رواه الطبرانی.

ژباړه: سرور کاءنات محمد علیهِ السلام فرما یی:هر چا چه زما پدغه مسجد کښی څلویښت لمونځونه بلا انقطاع یعنی یو لمونځ ځنی قضا نشو مسلسل یی څلویښت لمونځونه ادا کړل پر هغه باندی براءت داوره او براءت دعذابه او براءت د منا فقت څه لیکل کیږی ، ددی حدیث شریف تفسیر داسی کیدای شی: - حق تعالی به هغه بنده ته دتوبې او تقوا زمینه مهیاکړی او دحق تعالی دبخښی او رحمت لایق به وګرځی ،پدې حدیث شریف کښی ندی ذکر شوی چه باید په جماعت وی یعنی یوازی اداکول دلمانځه هم پکښی شامل دی ،او بل دنه فوتیدو دیوه لمانځه ذکر شوی دئ دفوت کلمه دفرضی او واجب لمانځه دپاره راځی نه د نفلی او سنت لمونځو دپاره یعنی فرضی لمونځونه یا واجب لمونځونه باید حساب شی ، او فرض کفایی لکه دمیت لمونځ هم قضایی نلری نو هغه هم پدې څلویښتو لمونځونو کښی نه حسابیږی ،یعنی دورځی پنځه لمونځونه پر خپل وخت باید ادا شی که په جماعت وی افضله ده او دثواب اندازه دجماعت دلمانځه تر یوازی لمانځه ۲۷ مراتبه ډیره ده اوپه تعداد دلمونځ کونکو په جماعت کښی دهریوه لمونځ کونکی ثواب ډیریږی نو دجماعت لمونځ تر یوازی لمانځه په هر صورت غوره دئ ، نو که دهر لمانځه سره یو قضایی دهغه وخت هم را وګرځوې تعداد دلمونځو به دی دوه برابره شی ، داڅلویښت لمونځونه باید مسلسل وی داسی نه حسابیږی چه شل لمونځونه اوس وکړې او شل بیا یو میاشت یا کال وروسته وکړې.اوبل کلمه د(فی مسجدِ هاذا ) دالمونځونه باید حتماً په داخل کښی دمسجد وی نه دباندی دمسجد ددروازو مثلاً که دازدحام په صورت کښی دی دجماعت لمونځ دباندی تردروازود مسجد اداکړئ نو وروسته چه خلګ ولاړه مسجد ته په داخل شې اوهلته به هغه لمونځ بیا یوازی په ښه احتیاط ادا کړې ، چه دلمونځونو تسلسل په داخل دمسجد کښی زیان من نشی.اوپه مسجد کښی دننه ټوله مسجد په سرو غا لیو فرش دی ولی هغه حصه چه په سپینه یافولادی غالی فرش شویده هغه اصلی روضه شریفه دجنت ده نو هلته دمسجد نبوی منبر دی او دحضر پیغمبر علیهِ السلام زیارت دئ په دغه حصه کښی کوښښ وکړه چه لمونځونه ادا کړې که نفل وی خصوصاً صلوات التسبیح اویا سنت لمونځ لکه د تهجد لمونځ وی یا

قضایي لمونځ او دوخت فرضي جماعت اداکړي غوره کاردی ،عجبه موقع پلاس درغلې ده په طاعت او نیکو اعمالو لکه زیارتونویې تیر کړه.

په دې باور ولره چه په مقدسو ځایو کښي د پاک الله څه خواست کول دهغه ځای په برکت یې خدای تعالی جلّ جلا لهُ حتماً قبلوی نو د الله له در باره دوعا او غوښتنه په پاک او عاجزه زړه خپل خواستونه وکړه.

د مسجد نبوی هر لمونځ د یوازی دکور دلمانځه په نست د پنځو سو زرو لمونځو ثواب لری ولی د مکې شریفی د حرم داخل لمونځ د مسجد نبوی په نسبت د دوو لمونځو ثوا ب لری چه دعادی دکوردلمانځه په نسبت سل زره ۱۰۰۰۰۰ برابره ثواب لری .او که په جماعت هم وی دغه عدد په **۲۷** کښي نور ضر بیږی.

۲ :- په مدینه منوره کښي د ځینو مقدسو اما کنو زیارت کول:-( زیارتُ الْقبُوُرِ کفارتُ الْذنوُبِ ) ژباړه:- دقبرونو زیارت کول دګنا هونو رژول کوی.لمړی:- هر ځوورځی چه د سرور کاء نات محمد سید الا نبیا علیهِ السلام همسایه وی نو هره ورځ که وکولای شې دهغه

خاتم الانبیا سلام به وکړي:ـ دباب السلام د د روازې له لاری چه داخل شې نو په څرنګه احترام او مینه به دکونینو د سلطان دربار ته حاضرشې پدغه دمځکی دمخ په مشرف ترین محل کښي لمړی د محمد علیهِ السلام مبارکه ارام ګاه ده چه ورسیدې وایی (اَلصّلواۃُ وَالسّلامُ عَلَیْکَ یَا

رَسُو لُاللهِ نبَیِ ُالا خرِ ُالزمَان ) ستا او دټولو زیارت کونکود سلام په جواب کښي نبی علیهِ السلام په روحانیت سره جواب درکوی ( علیکم السلام ورحمت الله وبرکاتُهُ ) نوحق تعالی جلّ جَلا لهُ حتماً پرټولو زیارت کونکو رحمتونه او برکات نازله وی نیک بخته زیارت کونکې درې څلور قدمه چه وړاندی لاړشې نو د حضرت ابو بکر صدیق رحمت اللهِ علیهِ مبارکه ارامګاه ده نو به پر هغه د حضرت د محمد علیهِ السلام لمړی یا ر او د موٌمنینو پر لمړی خلیفه هم سلام ووایی( ا سلام علیک یا ابوبکر صدیق ) .تر هغه چه څو قدمه مخته لاړې د حضرت عمر ابن الخطاب د نبی علیهِ السلام دوهم یار او د اسلام دوهم خلیفه مبارکه ارامګاه ده ، سلام به پر ووایی ( اسلامُ علیکَ یا عمر ابن الخطاب ) د اسلا مونه به تکرار تکرار وایی تر څو چه دهغه د ارامګاه څه تیریږې ، تر هغه وروسته په دغه زیارت کښي دیوه قبر ځای خالی دئ چه دا هغه وخت چه حضرت عیسی علیهِ السلام دوباره ځمکی ته راکښته شی او د اسلام رهبری پر غاړه واخلی نو ټوله خلګ به د اسلام متابعت وکړی نو کله چه عیسی علیهِ السلام په خبل مرګ وفات وکړی پدغه محل کښي به چه مځکی له مخی دهغه د پاره تعین شویدی دفن شی.نو ددې محل او زیارت تبرک بې انتها دی ددغه ځایه چه ووزې نو به د باری تعالی څخه خبل دزړه مرادو غواړې.

یادونه:- وباب السلام ته ښځی په شبانه روز کښي دوه واره پریږدی د سهار لخوا دوه ساعته د ښځو د پاره خلاصه ده او د ماز دیګر تر لمانځه وروسته دوه ساعته د ښځو پر مخ خلاصه ده.

ددغه ځای مخا مخ یو ه ډیره مبارکه هدیره ده چه جنت البقیع یې نوم دی او دا د جنت مځکه ده دلته د حضرت عثمان بن عفان رحمتُ اللهِ علیهِ د حضرت رسولُ الله علیهِ السلآم دریم یار او د اسلام د دریم خلیفه ارامګاه ده ،او هم د بی بی فاطمې د حضرت رسول الله علیهِ السلام لور او د حسن او حسین رحمت الله علیهِم مور او د حضرت علی کرم اللهُ وجهَهُ عیال ارامګاه دلته ده او هم د حضر محمد علیهِ السلام ددرو واړو زامنو قبرونه او هم دټولو اصحابو کرا مو ارامګاه وی دلته دی ای محترمه حاجی صاحب ودغه مقبری ته هم په ډیر احترام ور پورته شه او اول به که یا سین شریف در سره وی وبه یې وایی او ثواب یې ددغه مبارکی مقبرې ومړو ته ور وبخښې که یا سین شریف نه وو در سره نو هر ایات مثلاً دری قل هو الله وی یا نور ذکرونه چه دی زده وی ویکړه او ثواب یې ددغه مقبرې ومړو ته هدیه کړه وروسته به نو د خپل الله پا ک ددرباره ددغه مبارکی هدیرې په برکت خپل خواست او غوښتنه وکړې الله پاک یې ددغه هدیرې په روی قبلوی. او محترمه حاجی فکر دی ونیسه چه په هره دوعا او غوښتنه کی یوازی د الله څه غوښتنه وی نه دبنده څه که مړ وی که ژوندی هیڅ مړی یا ژوندی تا ته د خدای بې ارادی څه نشی

ًددغه نازولی په روی ما وبخښې یا ددغه مبارک کولای نو غوښتنه به دی دالله څه وی نو هغه دخدای نازولی وخدای ته شفیع کولای شې مثلاً محل په روی زما مشکل را اسانه کړی. داسی به نوایی (چه خدای به کوی ته به کوی ) دا دخدایه سره شریک نیول دی ولو هر څوک وی او سړی کافر کیږی.نوکه دکم متبرک شی څه یا ځایه څه حاجت وغوښتل شي هم شرک دی غوښتنه دهر حاجت یوازی او یوازی دالله جلّ جلا لهُ څه کیږی او متبرک ځایونه او څیزونه یادخدای نازولی بنده ګانو زیارتونه هغه وسیلې دی چه الله جلّ جلا لهُ دهغه روی ته ګوری او ستا خواست قبلوی ( که وویل شی چه (الهی زه دی ګنا ګاره بنده یم ستا ددغه مبارکی کعبی په روی اوبرکت زما مشکل را اسانه کړه ) نو صحیح در خواست دی.

دوهم:- مسجد القبا : دامسجد مبارک یو څو کیلو متره د مسجد نبوی څه فا صله لری ا و دا مبارک مسجد تر کعبی شریفی وروسته داسلام اولین مسجد دی چه حضرت رسول اکرم علیهِ السلام دهغه دتهداب ډبره په خپلو مبا رکو لا سو ایښی ده

کله چه حضرت محمد علیهِ السلام دمکی شریفی څه ومدینې منورې ته هجرت وکړ نو پر دغه محل یی وملګروته امر وکړ چه دلته تم کیږو تر څو حضرت علی کرم اللهُ وجههُ دمکی شریفی نه را ورسیږی نو ددغه مسجد بنا یی وکړه. روایت دئ چه په دغه مسجد کښی یو لمونځ دیوی عمرې ثواب لری. نو به د خپلو ملګرو سره یو اجرتی یا ټکسی ونیسی. اوهلته ورشی. اوپه هغه کښی دوه رکعته نفل دمسجد د تحیی (احترام) ادا کړې.هر مسجد ته چه داخلیږې په هر ځای او زمان کښی چه وی لمړی به راسته پښه دمخه کړی په وخت کښی دداخلیدو ومسجد ته او وبه وایی ( الهُمّ افْتَحْ لِی ابْوَابِ رَحْمَتِکَ ) ژباړه :- الهی ستا درحمت دروازې ما ته خلاصی کړه.

دریم:- مسجد القبله تین ( ددوو قبلو مسجد ) :-

دماپښین د فرضو دجماعت په منځ کښی یعنی

وروسته تردوو رکعتو دالله جلَ جلا لهُ وحیه ومحمد علیهِ السلام ته راغله چه داولی قبلې څه چه بیت المقدس وو دکعبې شریفی وخواته مخ وګر ځوه نو حضرت رسول ُ الله علیهِ السلام سمدلاسه بیله دی چه سلام وګرځوی مخ دکعبې شریفی پر لور واړاوه په ده پسې لسو صحا به وو بیله سلام ګر ځولو همداسی دمکې شریفی پر لور مخ واړاوه نو دا هغه لس کسان رحمتُ اللهِ علیهِم دی چه عشره مبشره وبلل شوه یعنی هغه لس کسان چه دجنت زیری ور کړه شو او پر دوی دجنت شا هدی رواده ( الهی ستا ددغه عشرهَ مبشره وو په روی اوبرکت موږته هم جنت را نصیب کړه آمین ) نو ځکه دغه مبارک مسجد د دوو قبلو مسجد ونومول شو دغه مسجد ته به هم ورشې اوهلته به هم دوه رکعته تحیه دمسجد نفل ادا کړې او دخدای تعالی له در باره به خپل مرا د وغواړې . ځلرم مسجد الجمعه :-

داهغه مبارک مسجد دی چه رسول الله علیهِ السلام خپل اولین دجمعې لمونځ په هغه کښی ادا کړیدئ دغه مسجد ته به هم ورشې او دوه رکعته د تحیی د مسجد به ادا کړې. او دخدای تعالی په حضورکښی به د رحمت او برکت غوښتنه وکړې.

پنځم مسجد الجمامه یا په عربی یی مسجد الګمامه تلفظ کوی:-

ګما مه په کلاسیک عر بی کښی اور یځی ته ویل کیږی نو دا نوم په دې نسبت ورکړه شو چه حضرت محمد علیهِ السلام یو وار په هغه کښی داوخشکۍ په مناسبت استسقاء وکړه نو فوراً پر اسمان باندی اوریځی راالې او په اورولو یی پیل وکړ نو ځکه یی مسجد الګمامه بولی ولی

د غه مسجد مبارک د محمد علیهِ السلام عید ګاه هم وه او دلته به یې داخترو لمونځونه ادا کول ، دغه مبارک مسجد به هم وویني او دوه رکعته دمسجد دتحیی به پکښې ادا کړي او خواست به دی دالله پاک څخه وکړي

شپږم جبل الاحد :-

داحد غر تقریباً شپږ نیم کیلو متره دمدینې منورې وشمال ته پروت دئ پر دغه میدان دمسلمانانو او مشرکینو تر منځ سخته جګړه وشوه چه دجنګ په اوله مرحله کښې دمسلمانانو لښکرې بریالی شوې او مشرکینو شکست وخوړ کله چه داسلام غازیانو دغنایمو لاسته راوړو لپاره هغه کسان چه رسول الله دجنګ دمحاذ دشا دخوا دحملې دخطر دمخنیوی په خاطر موءظف کړی وه دهغوی په فکر چه مشرکینو ماته وخوړل بیا به را ونه ګرځی نوخپل مورچل یې خوشی کړ او په غنیمت پسې دغنډې څه را کوز شول نو دمشرکینو یوه ډله سپرو چه ودغه موقع ته په انتظار وه دغنډې دشاڅه پر مسلمانانو حمله وکړه او د ډیری خونړۍ جګړې په نتیجه کښې سید الشهدا حضرت حمزه رحمت اللهِ علیهِ دمحمد علیهِ السلام تره (اکا ) شهید شو او هم مشرکینو تر حضرت سرورکا ئنات علیهِ السلام پورې ځان ورساوه تلاښ یې دا وو چه انحضرت والا مقام هم شهید کړی ولی دمشرکینو دا کار او پلان د باهمته داسلام دغازیانو له خواشنډ شو مګر د رسول الله مبارک غاښ پدې جنګ کښې شهید شو.

نو ددغه داحد دمیدان لیدنه او د سید الشهدا حمزه رحمت اللهِ علیهِ زیارت چه دهغه جنګ دمیدان په وسط کښې دنورو داسلام د لښکرو دشهیدانو رحمت اللهِ علیهم سره دفن دئ ښه عمل دئ او دهغو شهیدانو وپاک ارواح ته درحمت دوعا کول داسی چه اول به درې قل هو الله وی ووایې او ثواب یې دهغو شهیدانو او د اسلام ډېټولو شهیدانو او جمله مسلمانانو وارواح ته هدیه کړی او دخدای پاک څه به داحد دشهیدانو په روی اوبرکت درحمت اوبرکت غوښتنه دځان او خپلو اقربا وواو دافغانانو تر منځ دصلح او اتفاق اود ګران افغانستان دترقی او ابادی دپاره وکړي.

اوم خندق یا جبل الصلاح:-

داسلام لښکرو او غازیانو دجنګ دمخه دمشرکینو دلښکرو دمخ نیوی په غرض چه نهایته ډیرا و سمبال شوی وه دلته خندق وکیښ دخندق دکښلو په جریان کښې دحضرت محمد علیهِ السلام دوی معجزې ظاهری شویدی یو دلوی سخرې ماتیده د انحضرت علیهِ السلام په مبارکو لاسو او بل دټوله اشر دصحابه وو مړول په یوه ټکی. دډوډې دهغه تفصیل داسلام دتا ریخ په کتابونو کښې ولولی. نو ددغه خندق په ساحه کښې شپږ مسجدونه بنا شوی وه ، ولی په را وروسته کلو کښې دسعودی دولت دهغه شپږو مساجدو پر ځای یو پراخ مسجد اباد کړیدی دهغه لیدل او په هغه کښې دمسجد دتحیی دوه رکعته دیا ده مه باسه ددغه مبارکو اما کنو چه داسلام دتاریخ جز دی لیدنه که دی توان درلود دیاده مه باسه.

د حج پام لرنه:-

محترمو لوستونکو ددې کتاب باید همیشه احتیاط وکړي او دهرډول ګناه اوناوړه عمل څه ځان لری وساتې ځکه چه دګناه تاریکی دنیکو اعمالو روښنایی مکدره کوی نو حلال خوړل-رشتیا ویل په معاملا تو کښې ، اودخدای دمخلوق سره هم دردی او محبت او دتکبر اوغرور څه ځان ساتل او دښکاره او پټو ناوړه اعمالو ځان ګوښه ساتل په اورادو کښې -دوعا اودینی وظایفو کښې معنوی قوت او تاثیر ایجاده وی نو دحج په وخت کښې او تر هغه وروسته باید دخدای صالح بنده واوسې او دنفس او هوا مطابعت به نکوې په اخره کښې زه دټولو محترمو لوستونکو دپاره خالصانه دوعا کوم چه الله جلّ جلا لهُ دی دوی ته توفیق پر ښو اعمالو ورکړی او خدای دی قبول او مبرور حج په نصیب کړی او خاتمه دې پر نیکو اعمالو ش

**زه عاجزه هم ستاسی څه دنیکی او رحمت ددوعا هیله مندیم . وسلامُ علیکم ورحمة ُالله وبرکاتهُ**

**الحمدُ لله الحمدُ لله الحمدُ لله تَقَبَّلْ مِنَّا هَذَا اِنَّکَ اَنْتَ سَمِیْعُ ُ عِلِیْمُ وصلی اللهُ علی سیدنا محمدٍ وآلِهِ واصحابِهِ اجمعین برحمَتِکَ یا ارْحَمُ الْرَاحِمِیْن .**

دغه کتاب ختم سو دربیع الاول په دریمه دجمعی ورځ د۱۴۳۰ هجری قمری کال –فبروری ۲۷ د ۲۰۰۹ عیسوی کال.

**Download from:aghalibrary.com**

www.myhajjguide.com

ما خذونه: ددی کتاب دلیکلو په موخه می ددی لاندی ماخذونه استفاده کړیده:-

۱:- تفسیر کابلی –ترجمه وتفسیر مولا نا محمود حسن (دیو بندی) ار واح دې ښاد وی

۲:- دقر آن مجید ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه کښی د سعودی دولت له خوا ترتیب شویدئ

۳:- خلا صته المناسک موءلف الحاج ملا عبد الغنی اخند افغانی کندهاری ،ارواح دې ښاد وی

۴:- حج او عمره لیکوال عبد اعزیز بن عبد الله ،ترجمه:- نظام الدین عبد الجبار (شایق)

چاپ او خپرونه د سعودی دولت داوقافو او اسلامی چارو وزارت.

۵:- نماز کامل مرتب خلیل الرحمان نعمان مظاهری او مترجم مولانا محمد شهداد سروانی ارواح دی ښاد وی.

۶:- د حج او عمری قدم په قدم رهنما په انګلیسی ژبه.

**Download from:aghalibrary.com**